# سوداګري

ماهنامه اقتصادی، فرهنگی و اجتماعی وزارت تجارت و صنایع افغانستان

لومړی کال لومړی ګڼه: ۱۳۹۱ میزان (تله)

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت خپرندویه ارګان



جلالتمآب پروفیسور دوکتور انوار الحق "احدی" وزیر تجارت و صنایع افغانستان یکجا با معین صاحبان محترم در جریان کنفرانس مطبوعاتی

# د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو وزارت

صاحب امتیاز: وزارت تجارت و صنایع افغانستان
موسس: وحیدالله "غازی خیل" رئیس اطلاعات و ارتباط عامه و سخنگوی وزارت

مدیر مسؤل: حمیدالله " عظیمی "

هیئت تحریر:
څارنوال نصیر احمد " زاخیل "
انجینر نجیب الرحمن " غمکی "
بشیر احمد " حیدری "

بریښنالیک: moci.pr@gmail.com
ویب پاڼه: www.moci.gov.af
اړیکي شمیره: ۰۷۵۲۰۹۱۰۹۵
پست بکس:۱۰۰۴
آدرس: د سوداګرۍ او صنایعو وزارت- د دارالامان سړک، کارته سه/ کابل افغانستان

مجله ( سودا ګري ) که ارګان نشراتی وزارت تجارت و صنایع افغانستان میباشد قدم است در راستای دسترسی مردم به اطلاعات و نهادینه شدن مفهوم واقعی دموکراسی. لذا از شما نویسنده ګان، فرهنګیان، صاحب نظران و اندیشمندان خواهشمندیم تا با ارسال مطالب علمی، ادبی، اجتماعی و ذوقی خویش در غنامند سازی محتوای نشراتی مجله ما را همکاری نموده افتخار بخشید.

سوداګري مجله بوازي د خپلو خپرو شویو لیکنو ځواب ګوي، نوري لیکني د لیکوالو د نظرونو څرګندوني دي، زمونږ توافق ور سره شرط نه دی.

## بسمه تعالی

# په دې ګڼه کې یې لولئ


سرمقاله ........................................ ۱
ديموکراسي مانا دا نه ده چي حتماً دې روشنفکر قدرت ته راشي........................................ ۳
اقتصادي سيستمونه او د هغو ډولونه ........................................ ۱۰
دوربينمو دلارې پيژندنه او ارزښت........................................ ۱۳
نخستين موافقتنامه عمده تجارتی منطقه ای افغانستان........................................ ۱۷
تاريخچه مختصر وزارت ........................................ ۲۰
د اقتصادي همکاريوسيمه ايزسازمان (ايکو)........................................ ۲۳
توره طلا (پټروليم)........................................ ۲۸
په هيواد کې د زغفرانو دود ........................................ ۳۰
گزارش از رياست حقوقی وزارت........................................ ۳۱
متوازن انکشاف ........................................ ۳۳
د بازار د اقتصادي نظام غوره بڼې........................................ ۳۶
د اسلامي اقتصاد او اسلامي جهان بينی مفهوم........................................ ۴۰
آداب معاملات تجاری از نگاه اسلام ........................................ ۴۱
هنر و ادبيات ........................................ ۴۴
اداري فساد ........................................ ۴۷
رقابت و نفع شخصی........................................ ۵۰
د مطبوعاتو تاريخ او لومړی ورځپانه........................................ ۵۲
مديريت زمان ........................................ ۵۴
د تجارت د قانون عمومي احکام........................................ ۵۷

## سرمقاله

### رول وزارت تجارت و صنایع در اقتصاد بازار

وزارت تجارت و صنایع افغانستان که از جمله وزارت های کلیدی دولت جمهوری اسلامی افغانستان میباشد در قبال براورده شدن اهداف قانون اساسی و ستراتیژی انکشاف ملی افغانستان خویش را پابند میداند که قانون اساسی دولت جمهوری اسلامی افغانستان و استراتیژی انکشاف ملی افغانستان مسیر واضح و روشن را برای سیستم اقتصادی افغانستان تصریح کرده است در ماده دهم قانون اساسی کشور چنین آماده است: ( دولت جمهوری اسلامی افغانستان سرمایه گذاری تشبثات و سکتور خصوصی را به اساس اقتصاد مارکیت تشویق و حمایت مینماید و مطابق به احکام قانون از آن پشتیبانی بعمل میاورد.)

همچنان در استراتیژی انکشاف ملی افغانستان در مورد سیستم اقتصادی افغانستان آمده است: ( افغانستان بر بنیاد یک اقتصاد بازار قوی به رهبری سکتور خصوصی، تساوی اجتماعی و ثبات محیطی یک جامعه مملو از امید و خوشبختی خواهد بود.) به همین ترتیب وزارت تجارت و صنایع افغانستان در مورد سیستم اقتصادی افغانستان طوری نظر دارد که: (خواهان یک نظام اقتصاد بازار در افغانستان باشد که از نظر اجتماعی مسؤلیت پذیر بوده و در آن رشد پایدار و متوازن اقتصادی توسط سکتور خصوصی رهبری گردد و باعث افزایش زمینه اشتغال، بهبود ، ارتقا سطح زندگی مردم و کاهش فقر در کشور گردد، و رقابت در بازار به هدف منافع مستهلکین بوده تا ایشان از تولیدات و خدمات تحت استندرد و فعالیتهای ضد رقابتی در امان باشند.)

وزارت تجارت و صنایع افغانستان برای انکشاف اقتصادی کشور از طریق طرح و ترتیب پالیسی ها ، مقررات مناسب و فراهم آوری تسهیلات برای تولیدات و تجارت سکتور خصوصی، خویش را مکلف میداند.

این برای رسیدن به هدف، که همانا انکشاف اقتصادی افغانستان میباشد یک سلسله اقدامات را انجام داده و در صدد براورده شدن متباقی اهداف میباشد که وزارت به همین منظور بعضی نکات را شناسائی کرده است: (برای بهبود محیط ، فضای مساعد برای تجارت ، تشبث و ارتقای جایگاه افغانستان در شاخص های تجارت یا DBI، بهبود رقابت بین المللی و افزایش تجارت، صنعتی ساختن افغانستان ذریعه تعویض واردات با تولیدات داخلی، اطمینان از فعالیت عادلانه و مساویانه سکتور خصوصی، رشد به منظور کاهش فقر، انکشاف اقتصاد بازار و بلند بردن سطح آگاهی در مورد چگونگی فعالیت آن و حصول اطمینان از اینکه وزارت تجارت و صنایع از ظرفیت کاری لازم جهت ایفای نقش خویش برخوردار میباشد.) درین نکات اساسی که وزارت در برآورده کردن اهداف آنرا شناسائی نموده است آخرین مورد آن که ارتقای ظرفیت کاری کارمندان میباشد شکل حمایوی را داشته که بسیار مهم پنداشته میشود و به همین منظور وزارت تجارت و صنایع افغانستان پروسه سیستم جدید رتب معاشات را عملی میکند که به شکل موافقانه در حال به پایان رساندن آن است.وزارت تجارت و صنایع افغانستان خویش را به وظایف ذیل متعهد میداند. تنظیم واردات و صادرات به نفع اقتصاد ملی، زمینه رشد و انکشاف تولیدات، صنایع و تدارک بازار برای محصولات افغانی در خارج از کشور، تشویق و حمایت از سرمایه گذاری های خصوصی داخلی و خارجی بر مبنای نظام اقتصاد بازار، انجام خدمات بندری، مساعد ساختن زمینه انکشاف سکتور خصوصی از طریق طرح و تطبیق پالیسی های مشخص و انجام سایر وظایف طبق احکام اسناد تقنینی مربوط.

ناگفته نباید گذاشت که وزارت تجارت و صنایع افغانستان یگانه نهاد نیست که برای انکشاف اقتصاد ملی افغانستان مسؤل میباشد و باید که فعالیت های سکتور خصوصی را تسریح بخشد بلکه در پهلوی وزارت تجارت و صنایع افغانستان نهاد های دیگر نیز موجود است که برای انکشاف اقتصاد ملی افغانستان مسؤلیت دارند از جمله وزارت مالیه که در بسیار کشورها از طریق اثرگذاری بالای مقدار مالیات و شرایط قرضه داری نفوذ عمده بالای عواید واقعی دولت دارند همچنان افغانستان کشوریست که از لحاظ معادن بسیار غنی میباشد که وزارت محترم معادن از طریق رشد و انکشاف سکتور استخراج معادن میتواند نقش بسزایی در انکشاف ملی افغانستان داشته باشد. برعلاوه اهمیت محصولات زراعتی در سیستم اقتصادی باعث میگردد تا وزارت زراعت، آبیاری و مالداری و وزارت احیا و انکشاف دهات نقش اساسی و کلیدی را در

این عرصه ایفا نمایند. اداره حمایه از سرمایه گذاری و اداره ملی استندرد افغانستان از جمله نهاد های تخنیکی دیگری هستند که در حصول دریافت دیدگاه وزارت تجارت و صنایع نقش حیاتی را ایفا مینماید. تمامی این نهاد های دولتی به شکل همکار بوده و هر کدام در حصه خود برای انکشاف ملی افغانستان در تلاش اند تا اهداف قانون اساسی دولت جمهوری اسلامی افغانستان و استراتیژی انکشاف ملی افغانستان برآورده شود که وزارت تجارت و صنایع افغانستان همیشه با این نهاد ها رابطه نزدیک داشته و دارد.

وزارت تجارت و صنایع در مورد سکتور مواد نفتی درین اواخر به این نظر معتقد است که نباید سکتور مواد نفتی تنها به سکتور خصوصی واگذار شود چون سکتور مواد نفتی یکی از مهمترین سکتور در یک کشور میباشد و باید دولت سهمی را در سکتور مواد نفتی در بازار داشته باشد و به همین منظور وزارت تجارت و صنایع افغانستان در صدد ساختن ذخایر بزرگ استراتیژیک مواد نفتی در حیرتان، هرات و کابل میباشد تا با داشتن سهم در بازار و رقابت سالم با سکتور خصوصی نرخ مواد نفتی را در بازار کنترول کند. همچنان وزارت در نظر دارد تا جواز کار تاجران مواد نفتی را سر از نو توزیع کند که با عملی شدن این پروسه وزارت تجارت میخواهد تاجران مواد نفتی را مشخص ساخته و همچنان واردات مواد نفتی را ازین طریق در کشور کنترول کند.

**ديموكراسي مانا دا نه ده چې حتمآ دې روشنفکر قدرت ته راشي، ديموکراسي دا مانا چې هر چا ته ولس رائ ورکړه.** پروفيسور دوکتور انوارالحق احدی

پوښتنه: هغه سوال چې هر څوک ورته بېلابيل تعبيرونه لري، هغه دا چې لس کلن بهير په افغانستان کې چې اوس يولس کلنی ته داخل شو، تاسو په ټوله کې څنګه ارزوئ ياني څومره بريالی و، څومره پاتي راغلی د تاسو له خولې څخه به يې واورو؟



ځواب: زما په عقيده د سيستم جوړولو له لحاظه يا د نظام جوړولو له لحاظه زموږ لاسته راوړنې زياتې دي، په افغانستان کې د کرزي صيب د حکومت په راتګ سياست کې پوره بدلون راغی، تقريبآ ورته ويلای شو چې انقلابي تغيرات راغلل، په اقتصاد کې انقلابي تغيرات راغلل ياني د نظام له لحاظه زموږ اوسنی سياسي سيستم له پخوانه له ټولو سيستمونو څخه فرق درلود، اقتصاد موله پخواني سيستم نه ډېر فرق لري او د اجتماعي لحاظه هم په همدې ډول دی.

دغه تغيرات نهادينه شول په دې مانا چې قانوني بڼه يې غوره کړه او په هره ساحه کې ورته موسسات جوړ شول، مثلآ په سياست کې، تقسيم د قواوو په درېو برخو باندې، دا نهادينه شول، انتخابات مهم شی ده دا نهادينه شول، احزابو تشکيل دا نهادينه شول، فردي او سياسي ازادي ګاني، دا پکې نهادينه شوې په دې مانا چې هم په قانون کې راغلې او هم موسسات ورته جوړ شول، همدغسې اقتصاد د بازار نهادينه شو څه که د بانکداری په سطح اوسېږي، څه د اسعارو په سطح اوسېږي، څه د قېمتونو په سطح اوسېږي اوڅه که د سرمايه ګذاری په سطح اوسېږي. دا ټول چې دي قانوني بڼه يې غوره کړه.

په اجتماعي لحاظ هم مثلا د ښځو حقوق، کلتور يا تحمل پذيري دا په کې نهادينه شو او د سيستم يا نظام جوړولو له لحاظه زه فکر کوم، چې د دې حکومت د تېرو لسو کالو لاسته راړونې ښې زياتې دي، خو متاسفانه چې بيا د دغه نظام فعاليت په حصه کې لږ څه ستونزې پيدا شوې دي.

**پوښتنه:** ستونزې هم شته او لاسته راوړنې هم شته، هغه څوک چې حد اقل په دغه برخه کې يې له ځانه کمزوري ښودلې دوه بعده دي، افغان حکومت او نړيواله ټولنه، تاسو په باور کوم يو په کې ډېر ګرم دي؟

ځواب: تر يو اندازې پورې حکومت هم ګرم دی يوڅه نواقص په کې دي، ډېر زيات په بين المللي ټولنې کې دي اوزماپه عقيده يو لوی مشکل چې هغه نه د حکومت دی اونه د بين المللي ټولنې دی، هغه داده چې افغانستان کې روزل شوی کدر په دغه اندازه اوس هم نده او دې تېرو لسو کالونو کې هم نه وه چې د دغه نوي نظام د پلې کېدو لپاره موږ يواندازه خلک ولرو، ياني که هر حکومت وی موږ به ځينې ستونزې درلودې، مثال په ډول زه تاسو ته وو ايمه مثلا زموږ عدلي سيستم

لااقل يوځلور پنځه زره ښه تربيه شوي حقوق دانا نو ته ضرورت لري، زه چې د ماليې وزارت کې وم په هغه وخت کې چې مونږ ارقام ونيول تقريباً اتيا فيصدو نه يا لااقل 75 فيصدو څخه زيات زموږ ځارنوالان د دولسم صنف فارغان ؤو، يا نې فاکولته د حقوقو يې نه وه لوستې، شرعيات يې نه وه لوستي، د دغسې کدر تربيه کول دا په يو کال ، دوه کاله اوپه درې کالوکې نه کېږي، ولې زموږ سيستم جوړ شو، بد سيستم نده او بايد چې په همدغه ډول باندې واوسي.

پوښتنه: ياني په يو ډول سره ملامتيا په دواړه کې شته خو په ټولو کې بيا حالات ډېر ګرم دي؟

ځواب: په ځينو شيانوکې البته ملامتيا په خلکوهم شته، په حکومت هم شته او په بين المللي ټولنې هم شته. ځينې شيان دي مثلاً، رابطه د پارلمان او حکومت، کيدای شي چې دا په بهتر ډول باندې پرمخ لاړ شي دا غټ پرسونل ته ضرورت نلري او په ډېر ساحو کې دونرانو هغوی د موسساتو په پلې کېدو کې برخه اخستې ده، ولې په دغه کې يې برخه نده اخستې يا لااقل دې ته ندي متوجې شوي چې د موسساتو د موثر فعاليت لپاره مونږ کومو شيانو ته ضرورت لرو، دا يواځې په قضاء کې نده، دا په اقتصاد کې ده، دا همدغسې په انجينرۍ ساحه کې ده او دا هم حتا په سياسي ساحو کې ده مثلاً، دونران وايي مونږه شفاف او ازاد انتخابات غواړو اما بيا دا نشي ويلای چې د دې لپاره چې رېښتيا انتخابات شفاف او ازاد واوسيږي کومو شيانو ته ضرورت دی. دوی وايي، کميسيون مستقل د انتخاباتو. يوخو مستقل په نوم سره اوسيږي بل دا چې په خپله کميسيون کې خرابی وي، هغه څنګه جوړوي؟ د دې لپاره بيا داسې يو جامع پلان نه اوسيږي چې د ټولو شيانو مخه ونيول شي بيا هم زه نه غواړم د منفي خبرو وزن ډېر زيات کړم دغه نظام چې دلته جوړ شوی که سياسي نظام ده که اقتصادي نظام ده او که اجتماعي نظام ده، د دنيا په کچه باندې يې ارزښتونه جيګ دي او په نوره دنيا کې هم هغه نظامونه چې ډېر کامياب دي همدغه موسسات او همدغه ارزښتونه لري.

پوښتنه: په دې وروستيو کې يو څه تشويشونه زيات شوي دي خصوصاً د بهرنيانو وتلو يا د مرستو کمېدو له امله، پوښتنه دا ده چې دغه کارونه چې شوي دي دابه دوامداره او پايداره واوسېږي اوپه سياسي توپانونو به نه لړزېږي؟

ځواب: دا ډېر زيات ارتباط دې پورې لري چې په اينده کې سوله په افغانستان څه ډول ده، که مونږ د سولې خواته لاړ شو خو زه په پوره اعتبار سره ويلای شم چې انشا الله دا ټولې لاسته راوړنې به پايداره واوسېږي، که خدای نا خواسته د ډېر وخت لپاره جنګ دوام وکړي، نو په هر ملک او په هر نقطه د دنيا کې جنګ نظام خرابوي او لاسته راوړنې له منځه وړي او نور منفي عواقب لري، زه دومره ويلای شم چې په افغانستان کې د جنګ دوام، د خلکو لپاره بدترين شی دی، زه په خپله دومره چې ځينې خلک بدبين دي نه يم، چې نشم ويلای چې پوره خوشبين هم يمه اما زه چانس د دې زيات وينم چې انشاالله اول به سوله راشي په افغانستان کې، ضرور نده چې پدې راتلونکو دوه کالو کې واوسي کيدای شي په راتلونکو پنځه کالو کې سوله په افغانستان کې راشي او که خدای ج نا خواسته باالفرض سوله هم رانغله زه دغه توانمندي په حکومت کې وينم چې بقا وکړي او د مخالفينو په مقابل کې نه يواځې دا چې سقوط ونکړي بلکه بالاخره حتا کامياب هم شي او هغه حالت کې دغه ډېرې لاسته راوړنې چې تر لاسه کړې مو دي ممکن بعضې ضعيفې شي ولې ډېرې لاسته راوړنې به په خپل ځای پاتې شي.

**پوښتنه :** معمولا يوه نيوکه ده، چې په اقتصادي برخه کې مو ښه فرصتونه اوچانسونه له لاسه ورکړي دي او بل دا چې کارونه شوي دي، لاسته راوړنې لرو خو بنسټيزې پروژې چې هيله منتيا ورته پيدا شي هغسې نه دي شوي معمولاً د برق يا ځينو مواردو ته ډېره اشاره کېږي دغه ټکي سره تاسو څومره موافق ياستئ؟

**ځواب :** زه چې ماليې وزارت کې وم څو ځله مې ويلي ده زه فکر کوم نورو وزير صيبانو هم ويلي ده متاسفانه مطبوعات په هغه اندازه ورته انعکاس نه ورکوي چې بايد ورته ور يې کړي. په افغانستان کې حتا له پنځمې برخې څخه هم کمتره يواځې ۱۸ فيصده دغه ټول کومکونه چې شوي دي د حکومت لخوا شوي دي، دا تکرار تکرار مونږ وايو خو بيا هم خلک وايي چې دلته په مليارډو ډالر راغلي دي، دغه ميليارډو ډالرو څخه يو فقط نهه تر لس ميليارډو افغان دولت ته ورکړل شوي دي او حکومت حاضر دی چې ځواب ورکړي، دوهم هغه پيسې يې چې حکومت ته هم ورکړې دي، پروګرامونه ټول د حکومت له خوا نه دي تهيه شوي د مثال په ډول وايم، معارف ضرور دی، دوی د معارف سره کومک کوي مونږ يې ملاتړ کوو، صحت ضرور دی دوی د صحت سره کومک کوي مونږ يې ملاتړ کو، شکل د کومک کې بيا دوی خپل

نظر لري دوی دې ته ترجيع ورکوي چې د ( ان جي او) له لارې ځيني قراردادنه وشي، په داسې حال کې که زمونږ پيسې واوسېږي زه ترجيح ورکوم  چې خپله د دولت د دايمي ظرفيت څخه ولګول شی.

**پوښتنه :** ياني د دوی دغه تګلاره، فکرکوئ چې په افغانستان کې په داسې حالاتو کې  بريالي نه وه؟

**ځواب :** زه هم همدې ته راځم چې اول خو دا دی چې اتيا فيصدو څخه زياتې پيسې دوی په خپله مصرفوي او د هغو مسووليت د حکومت سره ندی، ياني تاسو وويلې چې حکومت  چانسونه له لاسه ورکړل، حکومت سره چې دا پيسی نه اوسي نو چانس به له کومه شي  هغه څه چې راکړي يې هم دي په دې کې يو زيات مقدار دوی يې په خپل شکل د استعمال باندی لګوي. مثلا زمونږ غټه پروژه انکشافی پروژه (NSP) يا همبستګي ملي ده او همبستګي ملي خو يو زيربنايي پروژه نده ولې که مونږ ورته ووايو چې يو زيربنايي پروژه جوړه ؤو دوی يې پيسې نه مني، بانګ جهانی يی نه مني څو ځلی ما دا خبرې ورسره کړي دي چې مونږ نه غواړو په دغه اندازه کې په دغه ساحه کې مصرف وکړو، غواړو چې يو څه په نورو ساحو کې مصرف کړو، نه يې منی، بعضې ساحو کې يې موږ سره کومک کړی دی خصوصآ د اسيايی بانک کومکونه، هغه زيربنايي دي، يايې سړک جوړ کړی دی يا يی برق جوړ کړی دی اما که زيربنايی کارونه ډېر زيات نه دي شوي هغه هم دليل يې زيات له دونرسره دی، د دې ترڅنګ د حکومت هغه هم بايد سړی واويې، دغه افغانستان ته د نوي ريژيم راتګ د يوپلان ګذاری پر اساس نه وو، مونږ پروژې مشخصې کړې چې دغه دي او داسې پلان پنج ساله يا سه ساله په دی نه وو، چې ټول يو له بل سره مرتبط واوسېږي په دې کې ممکن زمونږهم يو څه قصور واوسېږي خو که پلان مو هم جوړ کړی وای او تمويل د دونرانو په لاس کې وی بيا کيدای شو چې زمونږ پلان يې راته نه وای منلی، بيا هم ځيني زيربنايي کارونه شوي دي، سړکونه جوړ شوي دي، د برق پايې نصب شوي دي خو په هغه اندازه نه چې بايد شوي وو ياني ډېر کم، او داسې هم نه ده چې مونږ دغه پيشنهادونه نه دي کړي، اکثره د دونرانو لخوا رد شوي دي. د شکر درې بند په هکله شپږ کاله مخکې د جرمنيانو سره په ډېر شدت سره په جرمني کې وغږېدم، دوی غوښتل چې پنځلس ميليونه ډالره مصرف کړي په جغل کارئ باندې، ما ورته وويل، جغل کاري مه کوئ پنځلس ميليون دالره به د حکومت له بوديجې څخه وي او پنځلس به د تاسو وي د شکر درې بند به پرې جوړ کړو دوی موافقه ونکړه او دوی د چغل کارئ خواته لاړل.

**پوښتنه :** تر دې وړاندې هم دا مشکل موجود ؤو چې نړيوالو بنسټيزو پروژو ته توجه نه کوله دا د دوی خاصه پاليسي ده يا تاسي کوم بل لامل په کې ګورئ؟

**ځواب :** کېدای شي يو اندازه ايدلوژيکي بحث واوسېږي په کې، مثلا د هغوی په نظر خصوصآ دغه ليبرال طرز تفکر د اقتصاد چې  IMF او بانک جهاني لخوا پر مخ ځي هغوی په دې نظر دي چې حکومت دغسې زيربنايي پروژو لکه برق او سړک، دې کې مسووليت لري ولې په نورو زراعتي پروژو او صنعتي پروژو برخه کې هغوی دا وايي چې دا د خصوصي سکتور کار دی، دا د دولت کار ندی، دولت دې معارف پرمخ بوځي قوانين دې جوړ کړي، برق دې تيار کړي چې هر يو ارزانه وو که په داخل کې ارزانه وو او که د خارج څخه يې راوړل ارزانه وي هغه دې پرمخ بوځی. بل د دوی دا هغه وو چې که په داخل کې برق توليد شي نو امکان لري شپږ تر اوو کالو پورې وخت ونيسي او د خارج څخه راوړل يې ارزانه وو په دې اساس باندې يو څه عملي مشکلات وو، يو څه ايدیالوژيک وو او کېدای شي ځيني نور مشکلات هم په کې وي.

**پوښتنه :** په دې لس کالونو کې په افغانستان کې ډېرې نورې ډلې چې ديموکراتې او روشنفکرې نه دي ډېر مخکښ دي خو روشنفکره يا ديموکراته طبقه دومره راوتلې نه ده يايې چانس نه ده پيدا کړی يا بريالي شوي ندي لامل يې په څه کې ګورئ؟

**ځواب :** ديموکراسي مانا دا نه ده چې حتمآ دې روشنفکر قدرت ته راشي، ديموکراسي دا مانا چې هر چا ته ولس رائ ورکړه. زمونږ ټينګار هم په دې وخت کې په ديموکراسی باندې اوسېږي د ولس په خوښه باندې اوسېږي. انتخابات بايد شفاف واوسېږي، يو ځل يا دوه ځلې که روشنفکر لاړ نشو او د روشنفکر موقف رښتيا د جامعې په ګټه وو بالاخره دا

درک به کوي. دا چې ولی روشنفکر پخوا نه دي تللي، اول روشنفکران هم سره په يو قطب نه دي راټول شوي، دا هم يو تشطت دی او که دوی وکولای شي سره په يوه ځای راټول شي امکان لري وزن يې لدينه هم زيات واوسيږي.

په پاليسي کې د روشنفکرانو نقش اوس هم زيات دی په حکومت او په موسساتو کې د روشنفکرانو موقف زيات دی، پارلمان کې ممکن په هغه اندازه سره نه اوسيږي مګر څو محدود خلک دي چې بيا د هغوی وزن زيات دی په بحث کې، په هر حال په ټولو ټولنو کې دا حال دی په ديموکراسی کې يې کله روشنفکر وړي کله يې غير روشنفکر وړي، زموږه غوښتنه بايد دا واوسيږي چې ديموکراسي جعلي ونه اوسيږي، په شفاف ډول باندې واوسيږي خلکو چې په هر چا اعتماد وکړ مونږه بايد هغه ومنو ولو که د روشنفکر له موقف سره د هغوی قضاوت فرق ولري، پروا نلري، باالاخره امکان لري چې بيرته په همدې خوا راشی.

**پوښتنه :** د يو ديموکرات او ولسواک نظام يو اصل همدغه سياسي خوځښتونه، سياسي حرکتونه او سياسي ګوندونه دي. په افغانستان کې يې په لس کلونو کې بې ساري وده کړې ده، خو بيا هم نيوکې پرې موجودې دي، په افغانستان کې ځيني سياسي ګوندونه، سياسي جبهې، ډلې او ټپلې، داسې ويل کيږي چې ګواکې سياسي ثبات ته به زيان ورسوي دغه سياسي ګوندونه اوجبهې چې ځيني منفي جهت ته او ځيني خپل سياسي ثبات کې دايم پاتې دي په دې هکله د تاسو نظر څه دی؟

**ځواب :** په هغه ټولنه کې چې پر اساساتو باندې موافقه موجوده واوسيږي هلته سياسي ډلې باعث د عدم استقرار نه کيږي او په هغه ټولنه کې چې په اساساتو باندې موافقه نه اوسيږي په ډيرو اساسي ملي خبرو باندې موافقه نه وي شوې هلته بيا سياسي ډلې کيداى شي باعث د تفرقې يا باعث عدم استقرار شي. اساسي خبرې په قانون اساسي کې مطرحه کيږي د دولت هويت، د دولت رابطه، مختلفي قواوې، د ملت هويت و امثالهم. په اساسي قانون کې مطرح کيږي. زموږ هيله دا وه چې په دغه ارتباط باندې به ډير سوالونه موجود نه اوسيږي ولې د نظام په شکل باندې که رياستی واوسيږي يا پارلماني واوسيږي زه فکر کوم دا دواړه سيستمونه دوه مختلف شکل د ديموکراسی دي، دا نه شم ويلای چې حتماً رياستي په ټوله دنيا کې بهتر دی او يا حتماً پارلماني بهتر دی، دواړه خپل مثبت شيان او منفي شيان لري. ولې د قانون اساسي په بحث کې بايد دا موضوعاتو باندې بحث شوی وی، که چيرې قابل د نزاع وي او په هغه وخت کې حل شوې وي خو دا په دې مانا نه ده چې د قانون اساسي يو ټکي باندې هم څوک نشي کولای چې ور باندې سواليه کيږ دي. کيدای شی يو يا دوه ټکو باندې سرې سواليه کيږدي. او هماغه ډول چې په اساسي قانون کې يې ويلي په هماغه ډول سره د هغه د تغير لپاره مصلحت آميزه مبارزه وشي. خو که چيرې څوک ټول د قانون اساسي اساسات د سوال لاندې ونيسي نو بيا په هغه حالت کې سياسي خوځښتونه باعث د عدم استقرارکيدای شي، سره له دې، چې اوس يو سلسله خبرې په همدغه ډول دي، چې قانون اساسي د سوال لاندې راولي، زما توقع داده، چې انشاالله دا به په طرف د عدم استقرار نه ځی په شرط د دې، چې رښتيا زموږ انتخابات واقعي واوسيږي زموږ انتخابات به له خارجي او داخلي مداخلې، بې د حکومت د مداخلې ځيني، بی له هغه چا چې د انتخاباتو پورې تړاو نلري د هغوی د مد اخلې پرته سره ته ورسيږي. زه فکر کوم هغه خلک چې ډير اساسي تغيرات غواړي انشاالله د قانون د چوکاټ نه به نه وځي او د عدم استقرار خواته به نه ځي.

**پوښتنه :** په هر صورت دا منئ چې ځيني سياسي خوځښتونه په افغانستان کې دي چې خپله اصلي لاره ور څخه ورکه شوې. او يو څه انحراف شوي دي؟

**ځواب :** زما په عقيده ځيني غوښتني يې د دې وخت لپاره لازمي ندي، زموږ سيستم ډير نوی سيستم دی او په دومره زغرده باندې بيا د دې سيستم د سوال لاندې راوستل زه فکر کوم چې ښه وخت د دغه لپاره ندی بلکه د دغه سيستم د مؤثر فعاليت لپاره بايد زموږ غوښتني واوسيږي نه دا چې يو سيستم لرې کړو او پر ځای يې بل نظام يا بل سيستم راولوو.

**پوښتنه :** درې چانسونه ورته ووايو يا درې لاسته راوړني چې تر لاسه مو کړې هغه دا، چې د امريکا سره مو ستراتيژيک تړون لاسليک کړ، تر هغه وروسته مو په نظامي برخه کې د شيکاګو غونډه کې ملاتړ ترلاسه کړ او بيا هغه څه چې تاسې هم زيات په کې ښکيل وئ د توکيو غونډه وه چې د اقتصادي اړخه هم وتوانيدو چې ملاتړ ترلاسه کړو دغه درې واړه ګامونه تاسو څومره مثبت ارزوئ چې ياني درې واړه کولای شي موږ سره وروسته له ۲۰۱۴ کال مناسبه مرسته وکړي؟

**ځواب :** ډېره زياته، اول دا چې زموږ امنيتي قواوی ډېرې زياتې شوي دي او مصرف يې هم فوق العاده زيات شوی دی، دا زموږ د ملي اقتصاد له وسې څخه وتلې ده چې موږ درې نيم لکه نفر اعاشه کړو او اسلحه ورته واخلو د شيکاګو کنفرانس پريکړه په دې ارتباط باندې فوق العاده مهمه ده، د لس کلونو لپاره حکومت ته موقع ورکوي چې د مالي لحاظه مطمين واوسېږي.

د توکيو کنفرانس پريکړه چې بيا د کال څلور ميليارده  د لس کلونو لپاره افغانستان ته ورکوي دا هم ډېره مهم ده، چې انشاالله  په لس کالوکي به زموږ اقتصاد بهتر شي او اميد دی چې سوله هم په افغانستان کې راشي، زموږ ضروريات هم کم شي او د هغه سربيره کوم ستراتيژيک تړونونه چې د امريکا او نورو هېوادونو سره شوي انشاالله کوم تهديدات چې د افغانستان امنيت ته دي هغه هم د هغو په رفع کولوکې موږ سره ډېر کومک کوي. او دا درې نقطې چې تاسو ورته اشاره وکړه زما په اند د افغانستان ثبات او کاميابی په ارتباط باندې د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته زه فکر کوم ډېر به مؤثر واوسېږي.

**پوښتنه :** توکيوکې چې تاسي خپله هم حضوردرلود بالاخره موږ څومره وتوانېدلو چې دنړېوالو قناعت حاصل کړو، يا هغومره تمه چې موږ درلوده هغه موترلاسه کړه اوکنه؟

**ځواب :** هو! تقريباً موږ هغومره ترلاسه کړه، ګرچې موږ په اول کې پنځه مېلياردو غوښتنه کړې وه، ولی موږ  پوهېدو چې پنځه ميلياړده ممکن ونه شي، اوس څه دپاسه څلور ميلياړده د کال ده. په اول کې موږ فکر کوو چې ايله څلور ميلياردو ته  ورسېږي اوس لږ څه اوښتي ده، دا بحثونه له دوی سره له پخوا نه روان وو اول بحث په دې ارتباط باندې د بن په کنفرانس کې وشو او بين المللي ټولنه ښه ده دا درک کوي چې دوی په افغانستان کې يو مسووليت لري او که افغانستان په داسې حال کې پرېږدي عواقب به يې خراب وي او د دوی لپاره به يې هم عواقب خراب واوسېږي او دا اماده ګي لري يا دا آماده ګي يې ښودلې ده چې افغانستان سره هم اقتصادي کومک وکړي او هم په امنتي چارو کې مالي کومک وکړي چې دا دولت پوخ شي په لس کلونو کې او په خپلو پښو ودريږي. زه خپله همدغه يو دليل ده چې نسبتآ خوشبين يم البته دا ډېرد دې پورې اړه لري چې زموږ اداره يا منجمنت يا مديريت د دې په څه ډول سره کوو، زه فکر کوم دغه دوه کنفرانسونو په نتيجه کې انشاالله د موږ لپاره دومره کومکونه شته دي چې اميد ولرو.

**پوښتنه :** دا کومکونه او مرستې خو تر لس کلونه پورې دي، ياني بلکل دوامداره ندي چې تل پاتي واوسي دغلته ځينو طرحو ته ضرورت دی چې موږ په خپلو پښو ودرېږو،ستاسي په نظر جامع طرحي کومې دي چې بالاخره موږ وتوانېږو تري ګټه پورته کړو؟

**ځواب :** دې کې دوه شيان دي، اول حکومت بايد خپل پلان طرحه کړي خصوصآ په اقتصادي ساحه کې او هم په امنيتي ساحه کې. او زما غوښتنه له دونرانو څخه دا اوسېږي چې حکومت ته اجازه ورکړي چې خپل ترجيحات په خپله وټاکي، خپل پلان په خپله جوړکړي او مسؤليت يې هم په خپل لاس کې واخلي او داسي هره دقيقه او په هرقدم کې راته ولاړ نه اوسېږي چې په دې خوا لاړ شه او په هغه خوا لاړ شه اوطبعآ څنګه مې چې مخکې ووېلې حکومت يو جامع پلان ته ضرورت لري دغه د رئيس صيب په فرمان کې هم ويل شوي دي چې د اقتصاد وزارت بايد د راتلونکې لپاره يو څلور کلن پلان جوړ کړي څلورکلن، درې کلن يا پنځه کلن هر نوم چې ورباندې کېږدي، اما دولت بايد چې د خپلو پروژو لپاره پشبيني ولري او دا پروژې يو له بل سره بايد ارتباط ولري، که تربيه  معلم ده بايد د دې پورې اړه ولري چې زموږ مکتبونه څومره ډېرېږي، د پوهنتونو سطح يا ظرفيت بايد د دې پورې اړه ولري چې موږ د دولسم صنف څخه څومره خلک فارغ وو، د مسلکي خلکو روزنه بايد د دې پورې اړه ولري چې زمونږ صنايع په کومه اندازه پر مخ ځي وعلی هذا القياس.

**پوښتنه :** معمولآ سوداګري، سوداګريزې اړيکې او ترانزيت په افغانستان کې يو ډول د سياست قرباني شوي دی، د ګاونډيو سره زموږ اړيکې چې کله هم د سياسي اړخه ترينګلې کېږي نو دا په سوداګرۍ او ترانزيت باندې مستقيم اغېزه لري دغه لپاره ستاسو وزارت تر دې دمه څه کړي دي، څه کوئ داسې کومه طرحه لرئ؟

**ځواب :** تجارت او ټرانزيت له عمومي سياست نه لرې کېدلای نشي، که خدای نخواسته زمونږ روابط د همسايه ګانو سره ښه نه اوسېږي، نو طبعاً په تجارت او ټرانزيت باندې اثر کوي، زمونږ پالېسي زيادتره دا ده چې لږ متحمله اوسېږو فوري عکس العمل ښکاره نه کړو ځکه چې نتيجه يې امکان لري مونږ ته نورهم ضرر ورسوي، مونږ محاط په وچه کې يو او له دنيا ځخه چې څه شی راځي د يو بل ملک ځخه تېرېږي او بايد مونږه د خپلو اعمالو يا د کومو اقداماتو چې کوو دهغه نتايجو ته پېش بينه واوسېږو، زه خو په دې فکر باندې يم چې زمونږ تجارتي روابط له همسايه ګانو سره په دې منطقي کې زمونږه په ګټه هم دي خو زمونږ په پرتله د هغوی په ګټه زيات دي، ياني اوس مونږ د پاکستان ځخه تقريباً دوه مليارده ډالرو مال دلته راوړو، افغانستان ممکن د پاکستان مهمترين بازار واوسېږي نو که زمونږ تجارتي روابط له دوی سره خرابېږي خو دوی ته هم نقص کوي، کله کله يوه خواه يا بله خواه لږ دوربينه نه اوسېږي لکه چې هغه بله خواه وي او مونږ هم داسي فوري عکس العمل په نفع د ملت نه ګڼو، ولې تر دې ډېره وخته پورې مونږ نشو کولای چې د متقابل لوري کړنې ناديده وګورو، په تجارتي مسايلو کې د دواړو خواو په ګټو باندې دي او زمونږ توقع داده چې هغوی هم دې ټکي ته متوجې شي، زمونږ په روابطو کې وقفه يې مشکلات راځي ولې اکثره اوقات فضل دخدای ده چې فعاليت روان دی، زمونږ په عقيده باندې چې کېدای شي له دېنه بهتر شي، کېدای شي له دې بهترتر واوسېږي، اميد مې ده چې په همدې ډول واوسېږي خو که خدای نخواسته هغوی بالکل بې علاقګي ښکاره کړي نو محدودې اندازې پورې مونږ هم عکس العمل ښودلی شو، چې ممکن هغوی ته هم په کې لږ څه ضرر ورسېږي، زمونږ موقف داده، چې نه غواړو هغوی ته ضرر ورسوو او له هغوی ځخه خواهش کوو، چې مونږه خواته هم ضرر راونه رسوي.

**پوښتنه :** ۲۰۱۴ کال کې دوه تحولات هم مهالي تقريبا پېښېږي، هغه دا، چې بهرنيان به په دغه کميت سره شتون نلري او ټاکني هم ترسره کېږي،په داسې حال کې ټاکنو ته ځومره خوش بينه ياستئ، هغه ټاکنې چې د بهرنيانو په شتون سره تر پوښتنو لاندې تللې چې په کومه فضا کې به ټاکنې ترسره شي؟

**ځواب :** په تېرو ټاکنو کې چون په ټولو ولاياتو کې امنيت پوره موجود نه وو، او چې امنيت نه اوسېږي لږ زره کنترول سخت اوسېږي ولې د دغو ټولو مشکلاتو سره سره بيا هم دا سړی ويلای شي چې مديريت يې په ډېر ښه ډول ورسېږي او دا موضوع بايد درک شي، دا موضوع باندې بايد بحث وشي او د شفافو او ازاده ټاکنو لپاره کوم مؤسيسات چې موجود دي هغوی بايد لااقل يو کال مخکې له هغه ځای نه بايد دا وايي، چې تېر ځل ټاکنو ته خطرات څه ؤو او دا ځل به د دوی لاره د حل ورته څه شی اوسېږي، چې مخکې له مخکې ورباندې موفقه واوسېږي، بيا هم زه په خپله د تېرو ټاکنو د اداري ځخه چندان خوشحاله نه وم او اميد داده چې دا ځل دا د ټاکنو مؤسيسات دې ټکی ته متوجې و اوسېږي که ټاکنې په شفاف ډول باندې ونه شي زه ډارېږم چې سياسي عواقب به يې نور هم خراب تر و اوسېږي.

**پوښتنه :** ياني هر څه د همغه منجمنت او اداري پورې اړوند دي کوم چې بيا ټاکنې تنظيوي؟

**ځواب :** هو! تر زياتې اندازې پورې هغوی پورې اړه لري، ځکه چې دټاکنو دشفافيت مسؤليت د دوی پر غاړه ده، که دوی له امنيتي چارو ځخه کومک اخلي هغه د دې لپاره چې شفافيت په کې راشي، نو دوی که دغه تېرو کالونو ادعاګانې دعدم شفافيت چې شوې ونه څېړي او دهغوی لپاره مقنع دلايل راپيدا نه کړي ياني اقدامات ونه کړي، زه فکر کوم چې د دوی حيثيت ته به هم ډېره صدمه ورسېږي، د انتخاباتو حيثيت ته به هم صدمه ورسوي او دا ځل به خارجي قواوې هم نه وي بيا خطر د دې شته چې د دې عواقب به په جامعه کې عميقتر له هغې اوسېږي چې تېر ځل ؤو، نو دا ډېره مهمه ده چې کله خارجي قواوې له دې ځايه ځخه وځي، مونږ د نظام د حقانيت په هکله، سوال نه اوسېږي او هر ځوک دا احساس وکړي چې صادقانه ؤو، نو په صادقانه لوبه کې يې يو سړی بايلي او بل يې وړي او دواړه خواوې يې بايد ومني، خو که برداشت په دې ډول وي چې نه، لوبه صادقانه، نه وه او هغه چا چې بايللې ده هغه هم چغې وهي چې ما وړې ده، نو بيا جنجال پېښېږي.

**پوښتنه :** شايد همدغه ۲۰۱۴ کال کې ټاکنې ترسره شي او انشا الله که ښې ترسره شي نو يو بل دولت، بل حکومت به راځي، کومو اساسي بدلونونو ته ضرورت لري يا همدغه لاره تعقيب کړي کومه چې اوس روانه ده؟

**ځواب :** ما مخکي وويل چي زه د نظام طرفدار يم، زه د سياسي نظام طرفدار يم، د اقتصادي نظام طرفدار يم او د اجتماعي نظام کوم چي مونږ منځته راوړی، زه د دې طرفدار يم، ولې په هره ساحه کې يو څه اصلاحاتو ته ضرورت دی. مثلاً په اقتصادي ساحه کې دې ته ضرورت دی چي تر اوسه پورې زمونږ نقش د دولت فقط زياتر د ناظر شکل درلود، زه طرفدار د دې يم چي دولت په اقتصاد کې مستقيمه برخه ولري او دغه غوښتنه زمونږ څخه د بين المللي ډونرانو او بين المللي مؤسيساتو لکه (IMF) بانک جهاني لخوا ځني وه، زه فکر کوم وخت د دې ده، چي دولت لږ څه مستقيم ارتباط ولري، همدغسي د سياسي مؤسيساتو په ارتباط باندې هم يو څه ريفورم ته ضرورت ده، زه فکر کوم فعلاً رابطه د حکومت او پارلمان په طرف د انارشي روانه ده او دا د حکومت مسؤليت هم ده او دپارلمان مسؤليت هم ده چي دواړه همکاري وکړي چي د دولت او د ملت چارې په ښه ډول په مخ بوځي، همدغسي په اجتماعي ساحه کې په ميډيا باندی يو څه انتقادات شته دي او په ځينو نورو ساحو کې هم زمونږ کلتوري مسايل، بايد چي دا د افغانستان کلتور او اسلام په نظر کې ونيسي، مونږ داسي ازادي مطلق نشو تعميلولای چي هغه خدای نخواسته داسلام له اوامرو سره مخالف اوسېږي يا د اسلامي او افغاني اساساتو سره په ټکر کې راځي په دغه ساحه کې په ټولو ساحو کې هر څوک چي په افغانستان کې سياست کوي، که حکومت اوسېږي، که افراد اوسېږي او که پارلمان اوسېږي يو څه اصلاحاتو ته ضرورت شته، تغير دنظام نه، اما يو څه اصلاحات په داخل دنظام کې، دې ته ضرورت شته.

**پوښتنه :** رابه شو ستاسو پيغام ته چي پيغام مو ولس ته څه دی او غوښتنه هم له ولس څخه، معمولاً پارلمان مو هم په خپلو خبرو کې ياد کړ له دوی څخه، د سياسي خوځښتونو څخه؟

**ځواب :** زما غوښتني هم زيادتره همدغه خبرې وې چي په دې اخرکي مي وکړې، فقط يو شی وايم، هغه دا چي افغانستان قرار ده چي يو ديموکرات سيستم و اوسېږي، ديمو کراسي په اکثره هېوادونو کې په اسانه نه راځي، غټه مبارزه ورته کېږي، مونږ ته يا په اسانه يا په غير اسانه ډول لااقل په قانوني لحاظه راته ميسره شوې ده، دا دخلکو وظيفه ده چي له دې څخه واقعي ديموکراسي جوړه کړي، واقعي ديموکراسي ياني د خلکو په خوښه حکومت واوسېږي او په دې اساس زما غوښتنه له خلکو ځني دا ده چي په فردي ډول او دسته جمعي ډول د خپلو حقوقو د تحقق لپاره فعاليت وکړي بايد په مسايلو اگاه واوسېږي، دومره اگاهي ولري چي قضاوت وکولای شي، په افرادو باندې قضاوت وکولای شي او د خپل قضاوت پر اساس باندې خلکو ته رايه ورکړي، چي څوک کولای شي، کوم وکيل کولای شي، کوم کانديد کولای شي او کوم ولايتي شورا خلک کولای شي چي رېښتيا د افغانستان مشکلاتو لپاره يو حل وړاندې کړي، صادقانه پر مخ ولاړ شي او باعث درفاه او ارامي د خلکو په دې ممکلت کې شي. د خلکو وظيفه ډېره مهمه ده، د يو نظام په نه يواځې جوړولو کې بلکې په مؤثريت کې هم. زما غوښتنه له خلکو څخه دا ده چي لږ څه وخوځېږي او جدي حرکت وکړي، چي نظام مؤثر شي او دغسي خلک رامنځته کړي چي هغه وکولای شي د دې نظام په مؤثريت کې مثبت قدم واخلي.

مننه د افغانستان د افغان ملت د گوند مشر او د سوداگرۍ وزير ښاغلی ډاکټر انوارالحق احدي له تاسو څخه يوه نړۍ مننه په خير راغلئ.

تشکر له تاسو هم.

# اقتصادي سیستمونه او د هغو ډولونه

## نورمحمد غفوري

زموږ د ګران هیواد افغانستان د روښان اندو او سیاسي کړیو تر منځ د هیواد د اقتصادي نظام پر سر تاوده بحثونه روان دي. غواړم په دې لیکنه کې په خورا لنډه توګه د اقتصادي سیستمونو په اړه لوستونکو ته داسې بنسټیز معلومات وړاندې کړم چې په عملي او نظري سیاسي فعالیتونو کې په هغو پوهیدل خورا اړین دي اوددې معلوماتو لرنه د هیواد په کچه د سیاسي او اقتصادي پلانونو او پروګرامونو په جوړولو کې مرسته کوي.

### اقتصادي نظام څه شی دی؟

په اوسني عصري اقتصاد کې د کار تولنیز ویش غوره رول لري. هر څوک د کار او تولید په ټاکلي څانګه کې تخصص او مهارت لري. هر خدماتي تولیدي اقتصادي واحد یو مخصوص شی (کالي) تولیدوي او د نورو غوښتونکو (مقتضیانو) له پاره یې د تبادلې او مصرف په خاطر بازار ته وړاندې کوي.



اقتصادي سیستمونه چې موږ یې د اقتصادي نظامونو په نوم هم یادوو، په ملي اقتصاد کې د خدمتونو او مادي نعمتونو د مؤلدینو(عرضه کوونکو) او مستهلکینو (تقاضا لرونکو) ترمنځ بنسټیزې حقوقي اړیکې او د راکړې ورکړې د انتظام اساسي بنې دي. دا هغه حقوقي نارمونه او سازماني ډولونه دي چې د هیواد د بنسټیزو اقتصادي پروسو ماهیت او د ودې لورى ټاکي.

### د اقتصادي سیستم اساسي بڼې:

د علمي، عملي او تاریخي لحاظه اساساً د تولیدوونکو او مصرفوونکو تر منځ د اړیکو د حقوقي انتظام دوه ډوله رامنځته کیدای شي:

1. یو مرکزي پلانیزه اقتصادي سیستم دی چې د دولتي مرکزي اداري لخوا ټولې اقتصادي معاملې او پروسې پلان، اداره او رهبري کیږي.
2. او بل د بازار اقتصادي نظام دی چې هر څه پکې د مرکزي دولتي اقتصادي اداري (ارګان) لخوا څخه نه ټاکل کیږي، بلکې اقتصادي فکتورونه په بازار کې د کالیو د عرضې او تقاضا له لارې د آزادو سیالیو په پروسو کې عمل کوي.

باید دا په پام کې ولرو چې ددې دواړو سیستمونو له انتخاب سره سم د تولید په وسایلو د مالکیت موضوع هم طرحه کیږي.

### مرکزي پلانیزه اقتصادي سیستم:

په مرکزي پلانیزه اقتصادي سیستم کې چې څرګنده نمونه یې د سوسیالستي هیوادونو اقتصادي سیستمونه دي، د تولید وسایل د دولت او یا ټولنیزو اتحادیو او کوپراتیفونو په ملکیت کې ورکول کیږي. په داسې نظام کې شخصي ملکیتونو ته اجازه ورکول کیږي، خو د خصوصي ملکیتونو شته والی د دولتي قانون له مخې منعه وي.

له شخصي مالکیت څخه مقصد پرهغه شتمنیو باندې د شخص تصاحب دی چې د هغه د شخصي او کورنیو اړتیاوو د پوره کولو له پاره ترې کار اخیستل کیږي، خو د نورو د کار د ثمر د خپلولو او استثمار لپاره نه شي کارول کیدای. د مثال په توګه، د اوسیدلو کور، جامې، بایسکل، موټر، هغه اندازه ځمکه چې یو شخص او د هغه د کورنۍ غړي پخپله پکې کار وکړي او همدا ډول نور ټول هغه څه چې یو څوک یې د خپل شخصي او کورني ژوند له پاره کاروي.

ددې په وړاندې خصوصي مالکیت د تولید پر وسایلو باندې دافرادو له هغه ډول تصاحب څخه عبارت دی چې د افرادو د شخصي او کورنیو اړتیاوو څخه زیات وي او د هغو په واسطه د نورو هغو کارګرانو او مسلکی کسانو د کار څخه ګټه اخیستل کیږي چې د همداسې وسایلو د نشتوالي له کبله په خپله په مستقل ډول په تولیدي او خدماتي فعالیتونو کې برخه نشي اخیستلای. د تولیدي وسایلو څخه بې برخې کارګران او ماهران د خپل ژوند د اړتیاوو د لاسته راوړو او په خپله تحصیلي څانګه کې د کار د موندلو له پاره دې ته اړ وي چې د کوم بل پانګوال سره چې د مناسبو تولیدي وسایلو څښتن دي، کار وکړي. په پایله کې د خپل کار او لاس د محصولاتو ګټه په لږه او یا ډیره اندازه د هغو د کار ورکوونکي پانګوال لاس ته ورځي.

ددي له پاره چې د شخصي او خصوصي مالکیت تر منځ موضوع ښه څرګنده شي دلته به د یوې ټوټې ځمکې، کور او موټر مثال راوړو:
که یو څوک شخصي ځمکه ولري، په هغه کې پخپله دی او د هغه د کورنۍ غړي کار او تولید وکړي او پیداوار یې هم د خپل کور د اړتیاوو له پاره ولګوي، نو د ځمکې ټوټه د هغه شخصي ملکیت ده او په مرکزي پلانیزه اقتصادي نظام کې یې د ساتلو او کولو حق لري. خو که چیرې یو څوک په ځمکه کې پخپله کار نه کوي، خپله ټوټه ځمکه چاته په اجاره، کرایه او یا دهقان ته په دهقانۍ ورکوي، نو دا ځمکه د هغه په خصوصي مالکیت اوړي او په مرکزي پلانیزه اقتصادي سیستم کې یې د ملکیت او د هغو په وسیله د بل چا د کار او زیار د ثمر د خپلولو حق نه لري.
همدا ډول که څوک پخپل کورکې پخپله استوګن وي او پخپله ترې کار واخلي، نو دا د هغه شخصي ملکیت بلل کیږي، خو که خپل کور او یا د کور کومه برخه یې بل چاته په کرایه ورکړه او له هغې لارې یې د خپلې شتمنۍ د زیاتوالي له پاره کار واخیست، نو په دې حالت کې دا کور د هغه د شخصي ملکیت له حالته اوړي او په داسې خصوصي ملکیت بدلیږي، چې د



هغو په واسطه د پردي کار ګټه د کور د څښتن جیب ته لویږي. د موټر مثال هم همداسې راوړای شو چې تر هغه پورې د یو چا شخصي مالکیت دی، چې پخپله او د هغه کورنۍ او دوستان ترې ګټه واخلي. خو که څوک موټر په ټکسي بدلوي او یا یې د کرایې په مقابل کې په کار اچوي، نو په دې حالت کې هغه له شخصي ملکیته وزي او په خصوصي ملکیت اوړي، ځکه چې له دې لارې د بل د زیار او کار ثمر د موټر د خاوند جیب ته لویږي او په دې توګه د بل د کار په واسطه خپله شتمني زیاتوي.
په مرکزي پلانیزه سیستم کې د ملي اقتصاد پروسې په تیره بیا د کالیو او خدمتونو د تولید او توزیع بهیرونه د مرکزي دولتي اداري لخوا د جوړ شوي مرکزي پلان له مخې معین، اداره او رهبري کیږي. مرکزي پلانیزه اقتصاد د اداري هیرارشۍ پر بنسټ ولاړ دي. داسې چې هر اقتصادي واحد باید د لوړو ارګانو او د هغه مرکزي پلان د اساسي کرښو څخه تابعیت وکړي چې د پلان د مرکزي اداري له خوا جوړ او د قانون په توګه منل شوي او خپور شوي وي. په دا ډول مرکزي پلان کې تر ډیره حده د دولت سیاسي مرامونه په پام کې نیول کیږي. د پیداوارو او خدمتونو ډولونه او اندازه د هر اقتصادي ـ تولیدي، خدماتي واحد له پاره د پلان له مخې په نظر کې نیول شوي وي. همدا ډول د بیلا بیلو اقتصادي او مصرفي واحدونو تر منځ د توزیع او تبادلې بڼه هم مخکې له مخه ټاکل کیږي.
د پخواني شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد او د نورو سوسیالیستي هیوادونو تاریخي او عملي تجربې څرګندوي چې د پلان او د هغو د عملي نتیجو تر منځ لوی تفاوتونه منځ ته راځي. هر څه هغسې لکه چې پلان شوي وي، پر مخ نه ځي. د مرکزي پلانیزه اقتصادي سیستم عملي تاریخي تجربو دا هم وښودله چې دا ډول اقتصادي نظام د اوږدمهاله ضروري پانګې اچونې او مدرنیزاسیون وس او امکان نه لري. نه یوازې په شوروي اتحاد، بلکې په نورو سوسیالیستي هیوادونو کې هم د تولیدي فابریکو او د تولیدي او خدماتي وسیلو د نوښت په لار کې د وخت د اړتیا سره برابر ګامونه نه دي پورته شوي.
په مرکزي پلانیزه اقتصادي سیستمونو کې د تولیداتو اندازه، د کالیو ارزښت او همدا شان د محصولاتو د خرڅلاو نرخونه (قیمتونه) د دولت لخوا ټاکل کیږي. داسې معمول وي چې د هیواد په ټولو برخو کې د ټاکلي جنس نرخ یو شی وي او قیمتونه ثابت او نه بدلیدونکي وي.

## د بازار اقتصادي سیستم:

د بازار په اقتصادي سیستم کې د ټولو خدمتونو او مادي نعمتونو تولید، توزیع، تبادله او مصرف د مارکیټ د آزاد بهیر او د عرضې او تقاضا د میکانیزم له لارې عملي کیږي. د بازار په اقتصاد کې په آزاده توګه د پیرودلو رامنځته شوي قیمت دوه دندې یا دوه مخې فونکسیون لري. د اجناسو د قیمت لوړ والی پانګوالو ته دا څرګندوي چې ټاکلی جنس څومره لږ او محدود دی او د هغو په وړاندې تقاضا څومره لوړه ده او دوی په کومه تولیدي ـ خدماتي څانګه او کوم ځای کې پانګه واچوي.

د بازار په اقتصاد کې چې د پانګوالی نظامونو اقتصادي سیستمونه یې ژوندۍ بېلګې دي، د تولید پر وسیلو باندې د قانون له مخې خصوصي ملکیت ټینګ وي. هر څوک کولای شي چې د خپل شخصي او کورني ضرورت څخه زیاتې پیسې، پانګه، شتمني ـ ځمکه، موټر، باغونه، فابریکې او نورې د تولید وسیلې په خپل لاس کې ولري او د هغو د کارولو له پاره نور کارګران او ماهران استخدام کړي. د خپلو تولیدي وسیلو او د کار د پردۍ قوې د ښه بیوستون او تنظیم له لارې کولای شي چې د تولیدي وسیلو د ملکیت د حق له امتیاز او ځواک څخه ښه ګټه واخلي او خپله پانګه او شتمني زیاته کړي. په دې اقتصادي سیستم کې لکه څنګه چې دولتي او کوپراتیفي واحدونه او شرکتونه د خپلوملکیتونو د ساتلو حق لري، همدا شان




وقفي، خصوصي اورنګارنګ ټولنیز شرکتي فارمونه هم د تولید پر وسایلو باندې د مالکیت د لرلو قانوني حق لري.

د بازار په اقتصادي نظام کې د تولید اندازه، د تولیداتو ډولونه، د پیداوارو ځایونه او قیمتونه د آزاد رقابت له لارې ټاکل کیږي. هرڅوک اصولا کولای شي هغه محصول تولید کړي چې د ده په خوښه وي، په هغه اندازه یې تولید کړي چې زړه یې غواړي، په هغه ځای کې فابریکه جوړه کړي چې مناسبه یې بولي او خپل پیداوار پر هغه قیمت خرڅ کړي چې خرڅولای یې شي. په بیلابیلو سیمو کې د ټاکلي شي قیمت بیل وي او کیدای شي چې په څنګ پر څنګ پلورنځیو کې هم د ټاکلي شي د خرڅلاو نرخونه یو له بله سره فرق ولري.

د بازار د میکانیزم د سم چلندله پاره د خصوصي ملکیتونو آزادي لومړنی شرط دی، داسې چې هر څوک د خپلو محصولاتو او تولیدي وسیلو واک لري او د هغو له توان او طاقته پخپله خوښه کار اخیستلای شي. د بازار د میکانیزم له پاره دوهم مخکنی شرط له هر ډول لاسوهنې، تحریف، جعل او تذویرڅخه د مارکیټ (بازار) آزادي ده. د مارکیټ په دا ډول آزادۍ کې د ټولو مؤلدینو او د مالونو وړاندې کوونکو (عرضه کوونکو) او غوښتونکو (تقاضا لرونکو) نیت، نظر او هدف انعکاس موندلای شي او دولتي او سیاسي ارګانونه پکې مداخله نه کوي. دا مخکني شرطونه په هغومنظمو قانوني دموکراتیکو نظامونو کې ښه طرحه او عملي کیږي، چې په هغو کې فردی آزادۍ، د سیالیو آزادۍ، د شغل او د کار د تړونونو آزادۍ او د افرادو نور حقوق د اساسي قانون او نورو فرعي قوانینو له لارې تنظیم او تضمین وي.

پلانیزه مرکزي او د بازار اقتصادي سیستمونه په عملي، علمي او تاریخي لحاظ په نړۍ کې د اقتصادي نظامونو دوه غوره بڼې دي او د اقتصادي سیستم هره بله بڼه کیدای شي چې د همدې دوو اساسي سیستمونوڅخه یوه او یابل ته ورنږدې او د هغو په فرعو کې وشمیرل شي.

# دورېښمو دلارې پيژندل او اهميت

لیکوال: پوهنوال رسول باوري

لاري او سړکونه د بشري ټولنو او هيوادونو تر منځ دپيوستون هغه اړيکي دي چي نه يوازې د سوداګرۍ لپاره يې موثريت څرګند دی بلکي د لرغونو زمانو را هيسي يې د تمدونونو ، کلتورنو او بيلا بيلو تهذيبونو د پيژندلو اوورلو راوړلو په چاروکي ټاکونکي او ګټور رول لوبولي دي . په دې




هيله چي افغانستان يو ځل بيا د نړۍ د پام وړ او په سيمه کي د پخوا په شان خپل ارزښتمن مقام تر لاسه کړي ، دادی د وريښمو تاريخي لارې څرک اخلو او ګام په ګام يې رباطونه او تم ځايونه را يادو و .په لرغوني نړۍ کي د هيوادونو تر منځ د اړيکو تامينيدل او دهغو اړيکو پايښت په زياته پيمانه د سوداګرۍ او تجارتي لارو د پرانستلو او ودې ورکولوچارو تر اغيزو لاندې پاته شويدي ، په ځانګړې توګه هغه وخت چي د سوداګرۍ لپاره بحري لارې نه کارول کيدې او يا هم د ځمکنيو لارو په انډول ډاډمني نه وې ، هغه وخت د هيوادونو تر منځ وچو ځمکنيو لارو زيات ارزښت درلود . د همدې ارزښت او د همدې لارو د زياتې ګټې اخستنې پر بنسټ و چي يوشمير لارو نړيوال نوم وګاټه او هم يې د لارې پر سر پراته هيوادونه د شهرت لوړو پوړيو ته ورسول ، چي د وريښمو لار يې يوه ستره بيلګه ده.د وريښمولار هغه وخت نړيوال ارزښت تر لاسه کړ چي مقدوني تاجر (( تيتونياس )) د لومړي ځل لپاره د ختيځ او لويديځ ترمنځ د دې لارې څخه په ګټه اخستلو بريالی شو ، نومړي سوداګر د شام په حوزه کي د روم او چين تر منځ د د سوداګريزو اړيکو د پراختيا په هيله په برايت ، سيدون ، تاير او انتيچ کي تجارتي مرکزونه پرانيستل او د همدې لارې څخه يې په ګټه اخستني سره وکړای شول چي د ختيځ او لويديځ تجارتي اړيکي تاميني کړي .د وريښمو د لارې وده او پراختيا هغه وخت د ختيځ او لويديځ تر منځ نامتو او ډاډمنه شوه چي د دې لارې پر سر پراته هيوادونه او د هغه وخت امپراتوريو د دې لارې د امنيت او ساتنې چاروته پام وکړ ، دا لاره چي دهند او چين څخه پيل



کيدل او بيا د لرغوني افغا نستان د مهمو ستراتيژيکو او سياسي مرکزونو څخه تيريدله او تر روم پورې رسيدله ، د خپل وخت درې لويې امپراتورۍ په ختيځ کي د چيني هونانو امپراتوري په منځنۍ اسياکي د کوشانيانو امپراتوري او په لويديځ کي د روم امپراتوري يو له بله سره پيوندکړې وې . د وريښمو تجارتي لار د وخت د امپراتورانو ترمنځ د ښو اړيکو زمينه هم برابره کړه چي د دې ډول اړيکو ښه بيلګه د روم ستر امپراتور (( تراجان : لومړۍ ميلادي پيړۍ ورستي کالونه .)) او افغان کوشاني امپراتور (( يما کدفيسيس : دلومړۍ ميلادي پيړۍ ورستي کالونه )) تر منځ د دوستانه ليکونو ليږل او راليږل وه .په ختيځ کي هندي ادويه جات او چيني وريښمين ټوکران د لويديځو هيوادونو لپاره د نورو تجارتي مالونو تر څنګ دزيات ارزښت او پاملرنې وړ وه ، د سوداګرۍ دا دوه ستر توکي په هند او چين کي جوړيدل او لويديځو هيوادونو ته يې د ليږلو لار د منځنۍ اسيا او په ځانګړې توګه له لرغوني افغانستان څخه تيريدل . د وريښمو د لارې پر سر دپرتو هيوادونو تر ټولو ارزښتمن ټاټوبی لرغونی افغانستان و ، له يوې خوا د افغانستان له سهيل لوري هندوستان څخه هندي ادويه جات او له بلې خوا د افغانستان له ختيځ لوري د چين وريښمين توليدات ، چي ختيځ ته بايد رسيدلي وای له افغاني خاورې څخه تيريدل ، د همدې ارزښت له مخې د کوشاني امپراتورۍ په دوران کي د پوره امن او د لارو دساتنې چاروته ځانګړې پاملرنه ، هغه څرګند لاملونه دي چي هم د ختيځې امپراتورۍ واکمنانو او هم د لويديځې امپراتورۍ واکمنانو د کوشاني امپراتور پوره درناوی کاوه او له کوشاني امپراتورۍ سره يې دوستي ځان ته وياړ ګڼه

.دلرغوني افغانستان او په ځانګړې توګه د کوشاني امپراتورۍ پر مهال کابل ، کندهار اوبلخ هغه درې ستر مرکزونه وه ، چې له هغو ځخه به د وریښمو د لارې کاروانونه په پوره ډاډاو امن تیریدل .یوه هغه لار وه چې د هند ځخه پیل کیده او د کابل ځخه تر تیریدو وروسته بلخ ته رسیدله بله هغه لار چې له هند ځخه پیل کیده او د کندهاره تر تیریدو وروسته به د وریښمو د لارې پر سرد کوشاني امپراتورۍ ورستی تمځای خوارزم کې د وریښمو نړیوالې لارې سره یوځای کیدله ، د بلخ ځخه ختیځ لورته د وریښمو نړیواله لار تر پکن او حتی ختیځ چین او جاپان پورې رسیدله، دلارې په اوږدوکې نور تم ځایونه هم وه چې په تاریخي متنونو کې د رباط په نوم یاد شویدي ، په دې برخه کې دهغورباطونو او یا تمځایونویادونه کوم چې په تاریخي متنونو کې ثبت او د تاریخي جغرافیه پوهانو له خوا پیژندل شوي

او په ګوته شویدي .



۱_ د کابل لار : د وریښمو نړیوالې لارې یوه سهیلي لار د کابل لارې په نوم یادیږي. دا لار چې د هند له مرکزي سیمو او په ځانګړې توګه د (( پوتالي پوترا )) ځخه پیل کیده د اوسني فیروز پور ، لاهور ، راولپنډۍ ، تاکسیلا ،او دلرغوني پوراشاپورا (( پیښور )) ځخه تر تیریدو وروسته کابل ته رسیدله ، کابل ته درسیدو بله لار هم په تاریخي متنونو کې یاده شویده چې د تاکسیلا او پیښور ځخه پیل شوې د چترال ، کنړ او لغمان ځخه تر تیریدو وروسته کابل ته رسیدله او له هغه ځایه بیا د وریښمو کوتل ، بغلان او بیا بلخ ته رسیدله او هلته به د نړیوالې لارې سره یوځای کیدله.



۲_ د کندهار لار : د غه لار چې کندهار او هند یې سره وصل کول لږ تر لږه ٤٠٠ میله واټن یې درلود .چې د پوتالي پوترا ځخه پیل کیدله او د فیروزپور تر تمځای وروسته د سکر ، شکار پور ، لورلایي او کوټې تمځایونو تر تیریدو وروسته کندهار ته رسیدله او له هغه ځایه بیا د لارام او فراه تر پراخو دښتو تیریدله او لرغوني هرات ته په رسیدوسره به د وریښمو نړیوالې لارې سره یوځای کیدله ، د همدې ارزښت له مخې د هندي مغولي دربار مورخ ابوالفضل علامي په خپل تاریخ کې لیکلي چې:( خرد پژوهان باستان کابل وکندهار رادو دروازه هندوستان برشمردند،که ازیکی برتوران ودیگری برایران جهانگردانرا این دو راه سزاوار)

۳_ د بلخ لار : دوریښمو د نړیوالې لارې یو ستر مرکز بلخ و ، د بلخ ځخه ختیځ لورته غزیدلې لار تر پیکن پورې رسیدله ، او په لاره کې پراته رباطونه هم په تاریخي متنونو کې ثبت شویدي، د وریښمو لویه لار د بلخ ځخه د ختیځ په لور لومړی رباط فیض اباد او تر هغه وروسته چیني تاشقرغان ، یارکند ، ختن ، روشان ، ترواز ، سیرانتروس او بیا پیکن ته رسیدله .د دې تر څنګ یوه بله لار هم د امو سیند شمال لوري ته د روشان له سیمې د شمال په لور بیله شوې اسمبریا ، دامنا ، اوشیا ، کاشغر ، خوقند ، خجند ، تاشکند ، ګورګنج ، هخشب ، مرو ، قصر احنف او بیا لرغوني هرات ته رسیدله . خو د بلخ ځخه د لویدیځ په لور د رباطونو زیات ځرک نه دی ځرګند شوی، په دې لار کې یوازې د میمنې او مرورود او بیا د هرات نومونه یاد شویدي.ښایي دا پوښتنه را پیداشي چې لرغوني افغانستان یوازې د وریښمو نړیوالې لارې پر سر د تجارتي اموالو کاروانونه بدرګه کول او که په دې هیواد کې هم داسې تجارتي متاع او محصولات وه چې د هغو په وړاندې کولو سره یې د دې نړیوالې لارې ځخه ګټه تر لاسه کول ؟ دې پوښتنې ته د جواب ویلو په نیت اړینه ده چې بیا هم تاریخي متنونو ته پام وکړو . د دې لپاره چې د بحث داوږدوالي مخه ونیول شي دلته د بیلګو په توګه د ځینو تاریخي متونو یادونه کوم .مخکې له هر څه د دې ټکي یادول اړین ګڼم چې د میلادي لومړیو پیړیو په درشل کې د افغانستان پر اوسنۍ محدوده کوشاني ستره امپراتوري واکمنه وه چې له یوې خوا یې د نړیوالو لویو امپراتوریو سره ښې اړیکې درلودې او له بلې خوا یې په خپله واکمنۍ کې داډمن امنیت او

مصونیت تامین کړی و چې دې چارې د وریښمو نړیوالي لارې د ودې او پراختیا لپاره پوره زمینه برابره کړې وه. د دې بنسټیز رکن سره یوځای د افغانستان په بیلا بیلو سیمو کې لاسي محصولات ، کرهنیز تولیدات ، ظریفه صنایع هم د وریښمو د لارې د ودې او پراختیا سره مرسته وکړه او باالمقابل د تجارتي نړیوالې لارې شتون هم په خپل وار په هیواد کې د دننه محصولاتو دزیاتوني او هڅوني سبب وګرځیدل .

چیني زیارت کوونکی هیونتسنګ چې په ۶۲۹ میلادي کال د بودایي معابدو لیدلوپه نیت افغانستان ته سفر کړی دی ، نوموړی د بلخ د پیداوارو په اړه لیکي : (( د بهولو یا بلهیکا ( بلخ ) و ښارته کوچنی راجاګریها وایي ، دغه ښار سره د دې چې پوخ



جوړ شویدی ، وګړي یې ډیر لږ دي ، خو د ځمکي پیداوار یې زیات دي.یوازې د ګلانو د ډولونو شمیر یې چې اوبیز او للمي کرل کیږي ډیر ګران دي . )) نوموړی د کاپیسا په اړه لیکي (( د کیا پي شي هیواد مرکز چاپیره محیط لس لیه ( یو لي د دریو میلو سره سمون خوري ) دی . په دې هیواد کې هر ډول غلې داني کرل کیږي . او دلته یوډول داسي خوشبویه بوټي شته چې د ( یوکین ) په نوم یې یادوي . او دې هیواد ته د ډیرو هیوادونو څخه تجارتي شیان را ځي او نورو هیوادونو ته تجارتي شیان ځي )) او د ننګر هار په اړه لیکي (( د ناکي لو هو ( ننګرهار ) سیمه د غلو دانو له پلوه ډیره شتمنه ده او په زیاته اندازه میوې او ګلان پکې شته او کرل کیږي .)

د لرغوني افغانستان څخه بهرنیو هیوادونو ته یوازې کرهنیز محصولات نه لیږل کیدل بلکې لاسي صنایع ، قیمتي کاڼي ، او دوایي بوټي او داسي نور سوداګریز توکي هم په زیاته پیمانه د سوداګرانو په وسیله لیږل کیدل، د بیلګې په توګه د لاجوردو کاڼي یادولای شو ، په دې اړه جاپاني لرغونپوه ماوریز یوتوزي په خپله څیرنیزه مقاله کې لیکي (( په مصر کې لرغونپوهانو داسي کاڼي د بیلابیلو فرعوني قبرونو څخه تر لاسه کړل چې له افغانستان څخه درې زره کاله پخوا تر میلاد د تجارتي متاع په توګه وړل شوي وه . د دې کاڼو شمیر د ۱۰۹ قبرونو څخه تر ۵۰۰ زیات لاجوردي کاڼي او غمي تر لاسه شویدي . ))علامه




حبیبي د ابن اثیر په حواله لیکي چې د لرغوني مصر د تجارتي توکو له جملې څخه یو اساسي قلم د هرات منسوجات ، او بدل شوي او تولید شوي توکران وه . د بلخ تاریخي جغرافیا لیکوونکی د نورو تجارتي شیانو تر څنګ د اسونو هغه تانګونه هم یادوي چې د بلخ په زندان کې د محبوسینو له خوا جوړیدل او بیا به د تجارتي متاع په توګه لویو بازارونو ته وړل کیده . په دې ترتیب نور لاسي صنایع او کورني تولیدات د نورو هیوادونو تاجرانو او سوداګرو لپاره د پام وړ توکي ګڼل کیدل او دهغو د لاس ته راوړلو لپاره به یې د وریښمو نړیواله لاره په پرله پسي توګه کارول . د افغاني لاجوردو بیلګې چې دلرغونو سوداګرو د پام وګرځیدل د یادشیو مطالبو څخه یوې بلې پوښتني ته هم لاره پیداکیږي چې ایاداسي شواهد او اسناد شته چې په لرغونو زمانو کې دا تجارت او سوداګري د بیلا بیلو هیوادونو تر منځ تر سره شویده ؟ دې پوښتني ته هم لنډ جواب هو دی . د دې لپاره چې د دې هو ویلو اسناد وړاندې شي اړینه ده چې په لنډه توګه دلرغونپوهانو له

خوا دهغو ځيرنو يادونه وکړو چې د همدې هو ويلو د ثبوت سره مرسته کولای شي . د جاپان د تاداجي په موزيم کې د اوښ يوه مجسمه شته داسې بريښي چې د بودايې مذهب پيروان يې د سفر لپاره کاروي ، دا هغه مجسمه ګڼل شويده چې په پنځمه ميلادي پيړۍ کې جاپان ته رسيدلې ده . د دې مجسمې د جوړيدو ټاټوبی افغانستان ګڼل شوی چې لومړی له افغانستان څخه چين اوبيا جاپان ته رسيدلې ده . د دې تر څنګ د ساز وهلو يوه وسيله چې دوتاره (دنبوره ) نوميږي هم د همدې مجسمې سره يوځای جاپان ته رسيدلې ده . او دلاجوردو کاڼي هم د ختيځ او هم د لويديځ په لوري د تجارتي متاع په توګه وړل شويدي،چې وړاندې مو دهغو يادونه وکړه.

د پايلې په توګه د يادونې وړده چې افغانستان د خپل جغرافيايي موقعيت پر بنسټ د منځنۍ اسيا تر ټولو ارزښتمن ټاټوبی ګڼل شويدی . خو د دې موقعيت ارزښت هغه وخت لا زيات شوی چې د ميشتو اولسونو په مرسته ، د ځواکمن او پياوړي دولت تر واکمنۍ لاندې راغلی دی . د تاريخ پاڼې دا مطلب بې له شکه تائيد وي چې په افغانستان کې سياسي ثبات اوپياوړی اولسي واکمني د سيمې او نړۍ لپاره د سولې او ډاډمنې ودې هميشنی پيغام لرلی دی .

**نخستین موافقتنامه عمده منطقه ای تجارتی افغانستان(SAFTA) ساحه آزاد تجارتی جنوب آسیا**

سازمان همکاریهای منطقهای جنوب آسیا (سارک) دراواخرسال 1985میلادی تاسیس شد.همکاری درسازمان سارک براصل احترام به تساوی حاکمیت،تمامیت ارضی،استقلال سیاسی،عدم مداخله درامور داخلی کشورهای عضوو منفعت متقابل استوارمیباشد.اهداف مهم سارک عبارت اند از: ارتقای سطح رفاه وکیفیت زندگی ساکنین جنوب آسیا،تسریع رشد اقتصادی،ترقی اجتماعی وانکشاف متقابل،تفاهم ودرک مشکلات یکدیگر،تقویت همکاری فعال ومساعدت متقابل درعرصه های اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی، تخنیکی وعلمی، تقویت همکاری با سایرکشورهای روبه انکشاف، نهادها و سازمانهای بین المللی، کمیسیونهای تخنیکي وجود دارند که همکاری اساسی را درعرصه های ذیل تحت پوشش قرار میدهند: زراعت وانکشاف دهات، فعالیت های مربوط به صحت وجامعه، زنان، جوانان واطفال، محیط زیست و جنگلداری، علم، تکنالوجی، هواشناسی، انکشاف منابع بشری، ترانسپورت، گروپهای کاری معلوماتی ومخابرات، حقوق مالکیت معنوی، توریزم وانرژی ایجاد گردیده اند. کنفرانس سران کشورها، عالیترین مقام سازمان سارک محسوب میگردد، تاکنون 15کنفرانس سران برگذارشده است. اعلامیه داکه شامل سیزدهمین کنفرانس سران که در نوامبر 2005 در داکه برگذارشد بیان میدارد که "سران کشورها وحکومات درخواست افغانستان برای عضویت را استقبال و با درنظرداشت طی مراحل قانونی عضویت آنرا خواستار گردیدند. " درچهاردهمین اجلاس سران که ازتاریخ 3 الی 4 اپریل 2007 در دهلی جدید برگذارشد جلالتمآب حامد کرزی رئیس جمهوراسلامی افغانستان اظهارداشت که "امروز بمثانه یک رویداد برجسته یادآوری خواهد شد چه افغانستان جایگاه خود را در خانواده آسیای جنوبی احراز میکنند. " بدین ترتیب افغانستان که یک کشور درسطح کمترین توسعه میباشد بعد از تکوین سازمان سارک در اپریل 2007 نخستین عضو جدید شناخته شد ومنحیث عضو آن سازمان موافقت خویشرا به قبول والحاق به مواد منشور سازمان سارک، اعلامیه ها، موافقتنامه ها وفیصله های سازمان متذکره اعلام داشت. در اواخر سال 1980 سازمان سارک توجه خود را بسوی همکاری های اقتصادی مبذول نمود دراین راستا اولین برنامه آن موافقتنامه تجارت امتیازی جنوب آسیا که هدف آن توسعه تجارت بین المنطقوی بوده، می باشد. این امر منحیث اولین مرحله گذاری نهایی به طرف ساحه آزاد تجارتی جنوب اسیا (SAFTA)گردید. موافقتنامه سافتا به تاریخ 6 جنوری سال 2004 مطابق 16 جدی 1382 در جریان دوازدهمین اجلاس آن دراسلام آباد نهایی وعقد گردید. ضمایم این موافقتنامه به موجب برنامه آزاد سازی تجارت ( TLP)به تاریخ اول جولای سال 2008 موافقتنامه سافتا را امضاء نمود.



**مشخصات برجسته سافتا** درماده 25 موافقتنامه سافتا اهداف، توافقات سازمانی، برنامه آزاد سازی تجارت وغیره تشریح گردیده است. این موافقتنامه روی توسعه تجارت بین کشورهای عضو ازطریق برداشتن موانع تجارتی، افزایش تسهیلات تجارتی وافزایش رقابت تاکید می نماید.موافقتنامه سافتا همچنان رفتارویژه ومتفاوت (SDT) را برای کشورهای که کمتر توسعه یافته شناسایی نموده ومیکانیزم حل وفصل منازعات را فراهم میسازد.ابزارکلیدی تطبیق عبارت اند از :آزاد سازی تعرفه ها،مقررات مبدا، توافقات سازمانی ، طرزالعمل های مشورتی،حل وفصل منازعات ، وتدابیر حفاظتی . موافقتنامه سافتا یک موافقتنامه تجارتی بوده وتوانایی آنرا دارد تا مشکلات تجارتی مانند تعرفه های بلند ،یا عوارض گمرکی توریدات ومشکلات گمرکی را با همسایگان افغانستان کاهش داده وازاین طریق چگونگی دسترسی تولیدات افغانی به مارکیت ها به گونه ای امتیازی حاصل میگردد. سافتا برای تجار افغانی مزایای ذیل را فراهم نموده است:




- هندوستان: قبلاً ازاول سال 2008 به اساس موافقتنامه سافتا تعرفه ها را برای تولیدات افغانستان به %0.5 کاهش داده است.(قبل ازبرنامه )

_ پاکستان وسریلا نکا : برای تولیدات افغانی ازآغازسال 2009 تعرفه ها را به %0.5 کاهش میدهند.

_ بنگله دیش ،بوتان ، نیپال، ومالدیف: تعرفه های شان را برای تولیدات افغانی تا سال 2016 آهسته آهسته به %0.5 کاهش میدهد. تمام تولیدات شامل این تخفیف میباشد به استثنای تولیدات مندرج لست امتعه حساس تعرفه های این تولیدات به اساس موافقتنامه سافتا کاهش نمی یابند. بخاطری که افغانستان ازامتیازات این موافقتنامه برخوردارشود، تولیدات صادراتی افغانستان باید آزمایش مقررات مبدا را برآورده سازد . الی 70 فیصد ارزش صادراتی (ارزش FOB) یک تولید را میتواند محتویات وارداتی تشکیل دهد. متباقی 30 فیصد ارزش صادراتی باید متشکل از منابع داخلی که شامل اجرات منافع وغیره میگردد تولیدات افغانستان میتواند دارای 20 فیصد منابع داخلی باشد درصورتیکه 10 فیصد ارزش متشکله آن ازسایر کشورهای عضو سارک تشکیل شده باشد .

برای افغانستان چند سال جبران خسارات عواید ازسبب نرخ های تخفیفی توریدات به اساس موافقتنامه سافتا داده میشود . دراین موافقتنامه تدابیر دیگر نیز درنظرگرفته شده است مانند: همکاری های گمرکی، حل وفصل منازعات تجارتی، ارتقای سرمایه گذاری، تسهیلات تجارتی، تدابیرحفاظتی دربرابر خسارات صنایع و واحد بودن شرایط برای مساعدت های تخنیکی درساحات مختلف . تعرفه های افغانستان هم اکنون درسطح بسیار پائین قرار دارد بناً افغانستان میتواند از این موافقتنامه بیشتر مستفید شود. زیرا تولیدات افغانستان دسترسی امتیازی به مارکیت های این کشورها خواهد داشت منحیث عضو سازمان سارک مزایای دیگری نیز وجود دارد. مثلاً ازمنابع کشورهای عضو سازمان سارک که درتولیدات صادراتی که درایالات متحده امریکا به اساس برنامه GSP برای امتیاز واجد شرایط میگردد استفاده شود با منابع مذکور منحیث منابع افغانی رفتار میشود. چنانچه سافتا درحال حاضر به اعتبار خود باقی مانده است، موافقتنامه" متذکره تنها تجارت اموال را تحت پوشش قرار میدهد وعملاً به تجارت سکتور خدمات استثنا قایل شده است. سکتورخدمات بخش مهم

اقتصاد منطقه را تشکیل میدهد و تجارت خدمات یک شکل بسیار سریع رو به انکشاف تجارت در جهان میباشد. دراین مورد بنابر تقاضای کشورهای عضوسازمان سارک یک مطالعه و سروی به اکمال رسید که درآن واضح گردیده است که منطقه آزاد سازی تجارت از خدمات بهره مند خواهد گردید. درمطالعه و سروی پیشنهاد گردیده است که اعضای سازمان سارک یک چهارچوب موافقتنامه را(یعنی چهار چوب سارک درمورد تجارت خدمات، سافاس ) تصویب مینماید . تمامی کشورهای عضو، درحال حاضر، بالای موافقتنامه سارک درمورد تجارت خدمات (SATIS) کار می نمایند. موافقتنامه سافتا حد اقل در ارتباط به افغانستان یک محیط سودمند که درآن به موضوعات تجارت در داخل منطقه آسیای جنوبی رسیده گی صورت گیرد فراهم نماید. همکاری اقتصادی منطقه وی فراینده یک موضوع مهم مشترک در استراتیژی انکشاف ملی افغانستان وموافقت نامه افغانستان بجای خود باقی مانده است وهرفرصت بمنظور دنبال این هدف باید تحت استفاده قرارگیرد .با وجود ضعف های موجوده در موافقتنامه سافتا چنانچه درحال حاضر به اعتبار خود باقی مانده است ، دورنما و پیشبینی وجود دارد که کشورهای عضو در بعضی مراحل در آینده غرض برطرف نمودن این مشکلات مذاکرات را آغاز نماید. هنگامیکه آن پروسه آغازگردد، اشتراک فعال به نفع افغانستان خواهد بود. آسیای جنوبی از بازار های دارای رشد سریع و بزرگ نماینده گی میکند و منفعت های اقتصادی قابل ملاحظه برای افغانستان وجود دارد اگر موافقتنامه سود مندتر و مساعدتر تصویب گردد. اشتراک در سازمان سافتا همچنان فرصت های بزرگتری را برای ایجاد روابط مستحکم دوجانبه با کشورهای سازمان سارک نیز فراهم میسازد. تعدادی ازکشورهای سازمان سارک موافقتنامه های دوجانبه تجارتی را فعالانه پیگری مینماید. اشتراک افغانستان در سازمان سافتا کمک مینماید تا یک اساس را ایجاد نموده که برمبنای آن این روابط تجارتی به آسانی ایجاد گردد و سر انجام ظرفیت محدودیت تخنیکی غرض درک واشتراک موثر در موافقتنامه های تجارتی دوجانبه و منطقوی وجود دارد. شمولیت و اشتراک فعالانه در سازمان سافتا یک فرصت را برای دولت فراهم میسازد تا مهارت ها و تجارب را ایجاد نماید که برای گسترش موافقتنامه های بیشتر در آینده ضروری باشد.

## تاریخچه مختصر وزارت

وزارت تجارت وصنایع افغانستان یکی از ارگانهای اساسی دولت بوده و دارای قدامت تاریخی میباشد. اعلیحضرت غازی امان الله خان بعداز اعلام استقلال درسال ( 1298 )مطابق ( 1919 ) میلادی ، اقدام به ریفورم های فراگیرنمود. شاه امان الله دولت مستقل افغانستان را بر اساس قانون اساسی و تدوین نظامنامه ها منجمله نظامنامه تشکیلات اساسی افغانستان بنیان گذاشت، به این ترتیب برای اولین بار در افغانستان تشکیلات اساسی دولت از طریق قانون تنظیم شد که در 15 جوزا (1302) به نشر رسید .

مطابق نظامنامه اساسی یا قانون اساسی تفکیک قوای ثلاثه دولت ( قوه اجرائیه ، قوه مقننه وقوه قضائیه ) به میان آمد واین قواء به صورت مستقل به کار وفعالت خویش در ساحات مربوطه خود آغاز نمود.

برمبنای قانون اساسی مکلفیت های قوای سه گانه مشخص وقوای اجرائیه، تقنینیه وقضائیه ایجاد شد قوای سه گانه دولت مستقلانه به فعالیت اغاز نمود ودربخش قوه اجرائیه تشکیلات جدید اداری کشور طرح وعملی گردید.




بعد از اعلام استقلال از جانب شاه امان الله قوای اجرائیه افغانستان ایجاد ودر نخستین حکومت آن دوره سردار عبدالقدوس به حیث صدراعظم بر گزیده شد وغلام محمد خان وردگ به سمت وزیر تجارت تعین گردید. وزارت تجارت از سال (1317 تا 1338) بنام وزارت اقتصاد ملی یاد میشد وبر اساس تشکیل سالهای قبل متشکل از شقوق تجارت، زراعت، صنایع وگمرکات امور اداری بود ودرسال ( 1316 ) نظر به انکشاف امور اقتصادی مدیریت های عمومی به ریاست ها ارتقا داده شد. بعضی شعبات جدید مثل مدیریت صنایع دستی، مدیریت صنایع ماشینی، مدیریت ترانسپورت، در ریاست صنایع ومدیریت های مستقل وتعرفه، مدیریت تدوین قوانین، مدیریت بازار های داخلی، مدیریت احصائیه تجارت داخلی وخارجی، مدیریت تدقیق ومطالعات در ریاست تجارتی در نظر گرفته شد ودرسال ( 1317 ) درریاست تجارتی، مدیریت صادرات و واردات ایجاد گردید.

با گذشت زمان مطابق ضرورت ونیاز همان وقت وبه تدریج ادارات مسلکی یکی پی دیگر از پیکر وزارت اقتصاد ملی جدا ومنحیث واحد های جداگانه به فعالیت آغاز نمودند وهریک از این واحد های ذکر شده به وزارت های مستقل ارتقا یافتند. درسال (1318 ) دفتر آتشه تجارتی در هند وبعداً وکالت التجاری افغانی درپشاور افتتاح شد. از سال ( 1319-1326 ) تشکیلات وزارت اقتصادملی مانند سالهای قبل باقی ماند. و تغیرات عمده در آن رونما نگردید، در اواخر سال ( 1328 ) واوایل ( 1329 ) در تشکیل وزارت اقتصاد تغیراتی رخ داد، بعضی ریاست های در تشکیل وزارت جدیداً ایجاد وبرخی از تشکیلات بنابر اقتضای زمان از بین رفته و وظایف آنها به دیگر شعبات محول شد.

اما بنابر نیازمندی روز افزون به ایجاد موسسات و وزارت های مسلکی دیگر، یک تعداد از ادارات از بدنه وزارت اقتصاد ملی مجزا وبه ادارات وموسسات مستقل دیگر ارتقا یافت ودر نهایت درسال (1335) وزارت اقتصادملی دوباره از ماه عقرب (1335) بنام وزارت تجارت درتشکلاتی اداری مملکت عرض وجود نمود که از آن تاریخ تا به حال با داشتن

تشکیلات مختلف، فعالیت های گونا گون تجارتی را انجام نموده است در شرایط فعلی دولت افغانستان خود را به داشتن "اقتصاد بازارآزاد" و حمایت از سکتور خصوصی منحیث مؤثرترین راه جهت رفاه و خوشبختی افغانستان باید متعهد شد.

اقتصاد افغانستان بطور ثابت رشد نموده که این رشد بطور نامساویانه وجود داشته و بیشتر افغانها را بخصوص آنعده افغانهایکه در روستا ها بسر میبرند، متاثر نموده است. اکثریت مردم در مورد فواید بازار آزاد نا مطمئن هستند خصوصاً هنگامیکه آنها با افزایش قیمت سریع و قیمت بلند اکثریت مواد اولیه مانند مواد نفتی و آرد مواجه میشوند. ضرورت است تا مردم افغانستان در مورد فواید اقتصاد بازار ازاد دوباره آگاه و تشویق گردند، فرصت های رشد اقتصادی کشور که سکتور خصوصی محرک آن باشد، شناسائی و از آن بهره مند گردد. این امر شامل یک تعهد به تحرک رشد در تشبثات کوچک و بزرگ ، صنایع عنعنوی، غیر عنعنوی و همچنان افزایش رقابت جهت حصول اطمینان از اینکه سکتور خصوصی برای فایدۀ همه، کارا میباشد. وزارت تجارت وصنایع یگانه وزارت کلیدی است، که این اهداف ازطریق آن میتواند برآورده گردد.

این وزارت راه طولانی را جهت ارتقای ظرفیت های خویش طی نموده است تا بتواند نقش جدیدش را بدرستی ایفا نماید، در وزارت مذکور یک ریاست جداگانۀ منابع بشری را تاسیس و آغاز به یک برنامه مکمل ریفورم اداری از طریق تطبیق سیستم رتب و معاشات نموده است. برعلاوه وزارت تجارت و صنایع به پیشرفت مهم در ساحات اساسی ترتیب پالیسی ها، تسهیل و تنظیم امورتجارتی نایل آمده است.

**معلومات مختصر در رابطه به تشکیلات وزارت تجارت و صنایع افغانستان**

1. ریاست دفتر
2. ریاست منابع بشری
3. ریاست اطـــــــــــلاعات و ارتباط عامه
4. ریاست صدور جوازنامه ها
5. ریاست اداری و امور مالی
6. ریاست تفتیش داخلی
7. ریاست ثبت مرکزی فعالیت های تجارتی و مشاغل ومالکیت فکری
8. ریاست تسهیلات ترانزیتی
9. ریاست عمومی تجارت بین المللی
10. ریاست عمومی انکشاف سکتور خصوصی
11. ریاست امور حقوقی
12. ریاست توسعه رقابت و حمایت ازمستهلکین
13. ریاست استراتیژی و پالیسی و پلان
14. ریاست انکشاف صادرات
15. ریاست تطبیق اصلاحات وتحلیل امور مالی تصدیها وشرکتها
16. ریاست تخنیکی امور صنایع
17. ریاست پارکهای صنعتی
18. آمریت جندر
19. آمریت تکنالوژی معلوماتی ومخابراتی
20. آمریت تنظیم امور تجارت مواد نفتی وگازمایع

پستهایکه در چوکات ریاست های فوق الذکر تحت پروسه رتب و معاش قرار گرفته بود (15) پست عالیرتبه و بقیه تمام پست ها پائین رتبه میباشد، بست های عالیرتبه از طریق کمیسیون محترم مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی به اعلان رقابتی گذاشته شده و از طریق پروسه رقابت آزاد استخدام شده اند. در مورد پست های پائین رتبه باید متذکر شد، ، در پروسه استخدام پستهای پائین رتبه نماینده بورد تعینات خدمات ملکی کمیسیون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی اشتراک نموده و مطابق به طرزالعمل استخدام رقابتی طبق معیاد تعین شده به اعلان گذاشته شده و فورم درخواستی توسط

موظفین مدیریت عمومی منابع بشری حین مراجعه افراد توزیع ولایحه وظایف پست های مورد نظر برای کاندیدان سپرده شده ودر مورد خانه پری فورم درخواستی به آنهایکه مشکلات داشتند کمک ورهنمائی صورت گرفته است.

آنعده کارمندانیکه از طریق رقابت آزاد استخدام گردیده اند اجراأت کاری شان مطابق به ماده ( 16 ) قانون مامورین خدمات ملکی مورد ارزیابی ( 6 ) ماهه وسالانه قرار میگرند.

# د اقتصادي همکاریوسیمه ایزسازمان (ایکو)

لیکونکی : نصیر احمد "زاخیل"

په کال ۱۹۴۶م د ملل متحد پورې اړوند دسوداګرۍ پراخوالی دکنفرانس (انکتاد) او هم دمخ پرودې هیوادونو دبیا رغاونې اوپرمختیګ په نامه د۱۹۶۰ لسیزې نومول د دې سبب شو چې په نړۍ کې دهیوادونو ترمنځ نړیواله او سیمه ایزه همکاري پیاوړې کړي.چې په دې ترڅ کې د سیمې دبیارغاونې دهمکارۍ سازمان (ار. سي . ډي ) په کال ۱۹۴۶م کې ددریو هیوادونو ایران،پاکستان او ترکې په غړیتوب رامنځته شو .

داسازمان دنوموړوهیوادونو دسیاسي،اقتصادي شرایطو اوغوښتنو په اساس کوم چې هغوی کوشش کاوه خپل اقتصادي شرایط اودصنعتي کولو طرحې په غربي سیستم سره عیاراوهم دځمکې لاندې ذخایرو کموالی ، نوې تکنالوژې ته لاس رسی ، د سیمې دموجوده امکاناتو څخه استفاده ، ددې هیوادونو ترمنځ تاریخي، فرهنګي اوسنتي مشابهتونه ، په یو حساسه او ستراتیژیکي نقطه کې د هغوی شته والی اوداسې نور عوامل ددې سبب شو چې دغه هیوادونه دهمکاریو څو جانبه سازمان رامنځته کړي.

نو په همدې اساس دغه سازمان په کال ۱۹۴۶م تاسیس او په ۱۹۴۸م کې دأزمیر معاهده دنوموړو هیوادونو ترمنځ دقوي همکارۍ اوفعالیتونو په هکله امضأ شوه .په لومړۍ لسیزه کې دا اسازمان دومره کامیاب نه وه خو وروسته ددې هیوادونود ځینو طرحوله کبله لکه په ایران کې دالمونیمو تولید ، په پاکستان کې دکاغذ تولید ، دبانک په هکله داساسنامې تدوین او دګمرکي همکاریو په هکله مؤثر اقدامات ددې سازمان داهدافو درلاسه کولو په هکله ترسره شول مګر دا وروستی طرحې هم دایران داسلامي انقلاب په دوران کې وځنډیدې اوپه نوموړي سازمان کې د ایران عضویت په تعلیق کې واچول شوچې بلاخره په کال ۱۳۵۹ کې دا سازمان کاملاً منحل شو .

وروسته له څو کالو څخه دځینوعواملوپه بُنیاد لکه دایران څخه دامریکا دحمایت لمنځه تلل اوهم د ایران نوی خارجي سیاست وه چې دهغوی په بنسټ ایران دپاکستان او ترکې سره نژدې کیدل غوښتل بل هم دایران اوعراق ترمنځ جګړه او دعربي هیوادونو له خوا په ایران اقتصادي محاصره د دې سبب شوه چې ایران دخپلو غیرعرب ګاونډیانو خواته ځان نژدې کړي، پاکستان هم دهند سره داختلافاتو په سبب او ترکې په اروپایی اتحادیې کې دنه منلو په سبب زیات تمایل د سیمه ایز سازمان په رامنځته کولوکې پیدا کړ، هماغه وو چې نوموړو درې واړوهیوادونو یو ځل بیا یو بل ته لاس ورکړ او د (آر.سي.ډي) پرځای یې یو نوی سازمان دسیمه ایزې اقتصادي همکارۍ دسازمان (ایکو ) په نامه رامنځته کړ .

## د(ایــکــو) پــیــژنــدنــه :

ایکو داقتصادي همکاریو سیمه ایز سازمان دی چې د نړۍ په یوه مرکزي مهمه او ستراتیژیکه نقطه کې په کال ۱۹۸۵ م د ایران، پاکستان او ترکې هیوادونو له خوا تأ سیس شو .

ورسته کله چې شوروي اتحاد دافغانستان دمسلمان ملت دمجاهِدو په اساس ړنګ او دمرکزي آسیا هیوادونه دروسې څخه ازاد شول نو دمرکزي آسیا هیوادونه ،آزربایجان او افغانستان هم په ۱۹۹۲ م کال کې دایکو سازمان سره یو ځای او دا وړوکی سازمان یې نسبتاً په یو لوی سازمان چې د۱۰ غړو لرونکی دی تبد یل کړ.

په اوسني وخت کي ترکيه، ايران، پاکستان،افغانستان،ترکمنستان،تاجکستان،ازربايجان،قزاقستان،قرقيزستان او ازبکستان ددې سازمان د غړو هيوادونوڅخه دي.



افغانستان آزربايجان ايران قزاقستان قرقيزستان پاکستان تاجکستان ترکيه ترکمنستان ازبکستان

## د ايکو سازمان موخې:

نوموړی سازمان دسيمي د مهمو اقتصادي اواجتماعي سازمانونوله جملي څخه دی چي دسيمي پرمختيا لپاره تاسيس اودزياتو اهدافو لرونکی دی چي مهم يې په لاندې ډول دی

۱- د يو مستحکمي اوقوي اقتصادي پراختيا لپاره کوښښ ، دسيمي داوسيدونکيو د ژوند دسطحي او سوکالتيا لپاره د شرايطو لوړوالی .
۲- دسيمي اوسيمي څخه آخوا د سوداګرۍ پراخوالی اودسوداګريزو خنډونو لمينځه وړل.
۳- د سيمي هيوادونو د سوداګرۍ ديوځای کولو کوشش د نړيوالي سوداګرۍ سره او هم اقتصادي،ټولنيزې،فرهنګي ، تخنيکي اوعلمي همکاريو ته وده ورکول.
۴- دحمل ونقل او ارتباطي بنسټونو پراخوالی .
۵- انساني سرچينو ته د ودې ورکولو اوپراخوالي په هکله دپلان جوړول او دطبعي سرچينو څخه ګټه اخستنه دنوموړي سازمان دمهمومو څخه شميرل کيږي .

## د سازمان جوړښت او تصميم نيوونکي ارګانونه:




۱- دمشرانو ناسته :- چي په هرو دوه کالو کي دعمومي اوټولنيزو لاربښونو لپاره ترسره کيږي .
۲- دوزيرانو شورا:- دوزيرانوشوراداسازمان دتصميم نيوني او سياست ايښودني لوړ او عالي ترين ارګان دی او په کال کي يوځل جلسه کوي.
۳- د دايمي غړوشورا چي دوزيرانو د شورا اجرائيوي مټ دی اوهر کال دسفيرانو په سطحه تهران کي جلسه نيسي .

۴- دسيمي دپلان او پروګرام جوړوني شورا:- په کال کي يوځل دغړوهيوادونو دپلان جوړوني درئيسانو په سطحه جلسه کوي چه د اهدافو دلاسته راوړلو په هکله عملي برنامې،دتيرو پلانونو او پروګرامونو څيړنه،دسيمه ايزو بنسټونو دجوړښت په هکله وړانديز اونور وظايف پرغاړه لري.

۵- سکرتریت( دارالانشاً ):- دایکو د سکرترېټ مقام مقر تهران ښار کي موقیعت لري چي دایکو د فعالیتونو نظارت،هماهنګی اودکنفرانسونو د ترسره کیدو چاري پرمخ وړي.

سکرترېټ دسکرتر، معاوینینو،مدیرانو او عادي کارکوونکیو څخه جوړشوی دی.دوزیرانو شورا دغړوهیوادونو دنومول شوو اشخاصو څخه یو تنددری کالونو لپاره د سکرتر په حیث ټاکي چي اد موده بیا تمدید کیدای نشي سکرتریت ددی سازمان ترټولو لوړ اجراېوي مقام ګڼل کیږي .




## دایکو سازمان فعالیتونه دمنشي اودهغه دمعاونینو د نظرلاندي د دغو مدیریتونو لخوا ترسره کیږي .

۱- دسوداګری او پانګه اچوني مدیریت.
۲- دترانسپورت اومخابراتو مدیریت .
۳- دکانونو،انرژی اوداوسیدني دمحل مدیریت.
۴- د زراعت، صنایعو او روغتیا مدیریت .
۵- د اقتصادي تحقیقاتو او پروژو مدیریت.
۶- دانساني سرچینو دپراخوالی مدیریت .

همدارنګه دایکو سازمان دلاندي تخصصي موسساتو او کاري کمیټو لرونکی دی :

۱- داقتصادي همکاریو کمیټه .
۲- دزراعتي همکاریو کمیټه .
۳- دمخدره موادو دکنترول کمیټه.
۴- دانرژي دهمکاریو کمیټه .
۵- دسوداګری اوصنایعو خونه.
۶- دعلمي، فرهنګي اوتعلیمي همکاریو خونه.
۷- انجینري اومشورتي کمیټه.
۸- فرهنګي انستیتیوت .

## د اقتصادي همکاریوسازمان (ایکو ) اهمیت:

دایکو غړیو هیوادونه د یو مشترک تاریخي او فرهنګي میراث په لرلو په یوه مهمه حساسه او جیوپولیټیکی جغرافیايي سیمه کي د موقیعت په درلودلو سره ددی وړتیا لري چي دنړی د اقتصادي قُطب نوم ځانته خپل کړي لکه څرنګه چه مخکي مو وویل نوموړي غړي هیوادونه په یوه ستراتیژیکه نقطه کي واقع او دزیاتو طبیعي زیرمو لکه دګازاونفتو لویو زیرمو، فلزي معدني موادو لکه مس، طلا اوغیر فلزي معدنیاتو او ددی تولو څخه مهم یي انساني قوت اوسرمایي درلودونکي دي .

ځرنګه چې دايکو غړو هيوادونو لپاره دسيمې بازار ته د پرمختګ ورکولو ښه زمينه مساعده ده کولای شي ددې هيوادونو د راتلونکې صنعتي پراخوالي لپاره ډير مهم کارونه تر سره کړي. چې د صنعتي پراخوالي په پای کې به دغړو هيوادونو لپاره د اجتماعي سوکالۍ او پرمختګ لپاره ښه موقع برابره شي غړي هيوادونه کولای شي په بين المللی اقتصادي معاملاتو کې د سيمې په اړوند ډيره پراخه ونډه ولري.
دا سيمه د اروپا، فارس خليج،روسي،هند اوچين سره دګډې پولې ، ايران دنفتو اوګازو لوی توليدونکې هيوادله حيثه، اوترکيه په بين المللی اوسيميزو معاملاتو کې داروپا ددروازې حيثيت په لرلوسره د نړی په اقتصادي معاملاتوکي ستراتيژيک اهميت لري. نو په دې ډول داسازمان د ختيځ اولوديځ دپيوستون دنقطې په نامه کولای شي دسيمې او نړۍ په اقتصادي پراخوالي کې مهم رول ولوبوي اوخپل تاريخي ځايونه دسوداګرۍ اوترانزيت ددهليز په توګه پرانيزي .
داسازمان د ۸ ميلونه کيلو متر مربع مساحت درلودونکی دی چې د۳۵۰څخه تر۴۰۰ميلونه نفوس لري او ۳۰ په سلو کې مساحت يې په اسيا او ۶ په سلو کې په ټوله نړۍ کې نيولی دی .
آسيا اود فارس خليج چې د نړۍ جيو پولتيک او جيوايکونوميک سيمې ګڼل کيږي ددې اتحاديې په جغرافيايی ساحه کې شتون لري .

## په ټوليزه توګه موږ کولای شو دايکو سازمان دپرمختګ پر وړاندې ستونزې په لاندې ډول په ګوته کړو.

۱- دغړو هيوادونو ترمنځ داقتصادي جوړښت بيلوالی لکه دمرکزي آسيا هيوادونه د اقتصاد بازار په سيستم باندې تمرکز پلوته روان دي ياهم په ترکيه کې دخصوصي سکتور پراخوالی نسبت دايکو نوروغړو ته .
۲- دغړو هيوادونو لپاره ديو پرمختللی پلان نه درلودل او داقتصاد دنه تکميل والی اوهم دخصوصي برخي ضعيفوالی ددې سازمان دنه پرمختګ يو دليل ګڼل کيږي .
۳- داکثروهيوادونو دپرمختګ لپاره د سرمايې نشتوالی په خاص ډول افغانستان اومرکزي آسيا هيوادونولپاره.
۴- په غړو هيوادونو کې دسيمې او نړۍ دسوداګريزو روابطو دحمايت لپاره دځينوبنسټونو نه موجوديت .
۵- د سوداګرۍ اوپانګه اچونې د نظارت په هکله دغړو هيوادونو لخوا دقوانينو اومقرراتو ضعيفوالی اود قوي غړو هيوادونو ترمنځ د قوي سوداګرۍ او اقتصادي معاملو نه موجوديت.
۶- دغړو هيوادونو ترمنځ د سياسي ليد لوري اود ښه نيت نه شتون، يو پربل بدګماني اوداعتماد نه موجوديت .
۷- د ځينوغربي هيوادونو نفوذ لکه د امريکا اواسراييلو په ترکيه، آزربايجان اوافغانستان کې دامريکا يی نظاميانو شتون.
۸- دنړۍ دهيوادونو ترمنځ د سياسي ريژيمونو بيلوالی، سياسي اوعقيدوي تعرض لکه ايران اوترکيه چې ترکيه د سيکولر حکومت غوښتونکي ده په داسې حال کې چې ايران ديوه اسلامي نظام غوښتونکی او سيکولر سيستم باندې نيوکه کوي.
۹- د ځينو غړو هيوادونو يوځايوالی له ځينو نورو غيرسيمه ايزوهيوادونوسره لکه د ترکې همکاري له غرب سره په خاص ډول دامريکا او اروپايي اتحاديې کې دشامليدو په هکله يا پاکستان چې په اقتصادي معاملو کې نيم دغرب اونيم هم دشرق ليد لوری لري .
۱۰- همدارنګه د ځينو غړوهيوادونو د امنيتي اوسياسي ثبات نشتوالی (د مرکزي آسيا هيوادونو اوافغانستان) هم ددې سازمان دعمده ستونزوڅخه شميرل کيږي .

### دايکو سازمان مهمې معاهدې:

۱- دايکو سوداګريزه معاهده (اکوتا ) چې د ايران،ترکي، پاکستان اوافغانستان لخوا داکوتا
معاهده په اسلام آباد کی په۹ / ۴/ ۱۳۸۳ کال دتعرفو دکموالي په هکله تصويب شوه.
۲- د حمل و نقل اوترانزيت د چوکات بندی موافقت نامه :- داهم دايکو د مهمو معاهدو څخه ده چې د ځلورو کميسونو لرونکې ده .
الف - د جادې کميټه د - حقوقي کميټه ج-داوسپنې دپټلی کميټه ب- دبيمې داجراء کميټه

۳- دسرمايه ګذارئ ( پانګه اچوني ) دتشويق اوملاتړ موافقتنامه:- نوموړي معاهده د افغانستان، اززبايجان،اوترکی هيوادونو لخوا امضأ شوې اونور غړو هيوادونو تراوسه دامعاهده نه ده امضأ کړې .

۴- دقاچاق او ګمرکي جرايموپه هکله دايکوداطلاعاتي بانک دتاسيس معاهده : نوموړي معاهده د افغانستان،اززبايجان، اوترکي هيوادونو لخوا امضأ شوې.

۵- دايکو دغړوهيوادونو دسوداګرولپاره دسهولتونو د برابرولو په هکله معاهده : چه په کال ۱۹۹۲ م کې ترتيب د دربو هيوادونو لخوا امضأ او په کال ۲۰۰۰ م کې دنصاب د ټاکلي اندازې په پوره کولو سره داجراء وړ وګرځيده .



۶- دايکو دبانک د تأسيس معاهده : د کال ۱۳۸۵ راهيسي داجراء وړده اودهغه په اساس دايکو بانک خپل فعاليت شروع کړ چه دبانک مقر په استانبول کې موقيعت لري اوپه تهران اواسلام آباد کې يوه يوه شعبه لري.

## ايکو دسيمه ايزې همکارئ اونړيوالي پراختيا د قوي کيدلو په هکله ځيني تخصصي بنسټونه رامنځته کړي چه مهم يې په لاندې ډول دي.

۱- دايکو فرهنګي موسسه .

۲- دايکودبيمي دلوړو زده کړو موسسه.

۳- دايکو د سوداګرئ دپراختيا بانک.

۴- دايکو د سوداګرئ اوصنايعو د خوني ټولنه.

په همدې ډول دسيمې دهمکاريو دپراختيا لپاره لاندې تخصصي مرکزونه هم تصويب شوي دي .

۱- دو چکالئ د مديريت په هکله سيمه يزمرکز په مشهد کې .

۲ - دطبيعي آفتونوپه وړاندې دمبارزې سيمه يزمرکز.

۳- ددايمي ناروغيو پر وړاندې د مبارزې کميسيون .

۴- د ټکنالوژئ دانتقال سيمه يز مرکز په تهران کې .

نتيجه:

سره ددې چې دايکو سازما ن د نړئ په يو حساسه اوستراتيژيکه ساحه کې موقيعت لري د خپل جغرافيايي موقيعت پر بنا کولای شي د نړئ دسوداګرئ دمعابر حيثيت غوره او خپل غړي هيوادونه د نړئ د پرمخ تللو اقتصادي هيوادونو په قطار کې ودروي مګر دا سازمان درامنځته کيدوله نيټې څخه تراوسه په دې نه دی توانيدلی لکه څرنګه چې ښائي. اودکومو اهدافواومقاصدولپاره چه جوړشوی وه هغه ترلاسه کړي اوخپل غړي هيوادونه نوموړو مقاصدو ته ورسوي .

سره ددې چې دا سازمان خپلو موخو ته درسيدلولپاره يې يوشمير زياتي معاهدې په تصويب رسولي مګر نوموړي معاهدې يوازې دکاغذ پر مخ پاتي دي ډيرې کمې او يا هيڅ نه دي عملي شوي.

ددې سازمان د نه پرمختګ لاملونه د غړوهيودونو ترمنځ سياسي، اقتصادي، جغرفيائي اختلافات، دځينې غړو هيوادونو خودخواهي اوهم دسيمې دهيوادونو څخه علاوه دنورو هيوادونو نفوذ اواثر په ځينو غړوهيوادونو باندې ددې سازمان داهدافو په ترلاسه کولو کې دمهمو خنډونود جملې څخه شميرل کيږي چې دنوموړي ستونزې پر بنا داسازمان ونه توانيد چې د غړو هيوادونو په تيره بيا د مځنی آسيا اوافغانستان سياسي، اقتصادي اوامنيتي ستونزې هوارې اود يو قوي،پرمخ تللي او پر ځان متکي اقتصادي سازمان په حيث د نړئ هيوادنو ته ځان وروپيژني.

## توره طلا (پترولیم)

**ژباړونکی: ذکـريا شـــنیزی**

نفت او ګاز يا پتروليم چې په توره طلا سره شهرت لري، په حقيقت کې طلا نه، بلکه د عمل په ډګر کې د طلا نه کم نه دي، ځکه د نړۍ د نن ورځې اقتصاد په پتروليم پورې تړلی دی. نفت او ګاز دنن ورځې دزياترو ناخوالو او کشمکشونو سبب شوي دنوموړو علتونو پربنسټ مې اړينه وبلله چې په دې باره کې دامريکې غږ ويب پاڼې څخه خپره شوې مقاله له انګلسي ژبې څخه پښتوژبې ته وژباړم.



پتروليم يا نفت او ګاز د ډيرو پخوا وختونو څخه شهرت لري، يوناني تاريخ پوه هيرودت (Herodotus) ډير د پخوا څخه د قيرو استعمال د تاريخي ښار بابليون يا اوسني عراق د ساختمانونو او سرکونو د جوړولو لپاره ورانديز کړی ؤ.

په لاتيني ژبه کې پتروليم د تيږې د تيلو( rock oil) معنی ورکوي، پتروليم يا نفت اوګاز د فوسيلونو دپاتي شونو(بقاياوو) د سون توکي دي. دغه باارزښته ماده يا فلوئيد د نباتاتو او حيواناتو د پاتي شونوڅخه، کوم چې ميليونونه کاله پخوا مړه شوي وي، لاسته راځي. د حيواناتو او نباتاتو نوموړې پاتي شوني د وخت په تيريدلو سره تر ډيرو رسوباتو لاندې کيږي اووروسته د زيات حرارت او فشار لاندې واقع کيږي چې په نتيجه کې په توره طلا يا پتروليم (Petroleum) باندې بدليږي.

شکل: د پتروليم د معدنو شکل او نمونه يې.

ذکرشوې جيولوجيکي پروسې په نتيجه کې د کاربن او هايدروجن مغلق ماليکولونه منځ ته راځي چې کيدای شي بعضي نورمهم عنصرونه لکه سلفر، نايتروجن، اکسيجن، بعضي فلزات او نور عناصر هم ولري. پتروليم دخپل تشکيل څخه وروسته د هغه ځای نه چې فشار زيات وي حرکت يا په جيولوجيکي اصطلاح مهاجرت کوي او هغه ځای کې چيرته چې فشار کم، ښه محفظه (ساتونکی پوښ) او سوری لرونکی (منفذداره) ډبرې ولري قرار نيسي. پتروليم (او باالخصوص ګاز) کيدای شي تروش او يا خواږه وي، که چيرې خام پتروليم (او باالخصوص ګاز) يا په بله معنی غيرتصفيه شوي تيل د سلفرعنصردرلودونکي وي د تروشو تيلو يا پتروليم په نامه هم ياديږي.

د تروشو تيلو(پتروليم) دتصفيې پروسه نسبت دخوږوپتروليمو د تصفيې پروسې ته ډيره جنجالي او مشکله ده چې زيات وخت ته او پيچلي تصفيه خانې ته ضرورت لري. خواږه پتروليم د سلفرعنصر په کمه اندازه يا ئې هيڅ نه لري، چې په خپل ذات کې بيا ډير ارزښت هم لري.

د اتلسمې پيړۍ په لومړيو کې دپتروليم په باره کې نوې څيړنې پيل شوې، په همدې وختونو کې يواځې يو ميتود کشف شو چې دهغې په واسطه يې د پتروليم څخه د خاورو تيل لاسته راوړل، له دې مودې نه وروسته د خاورو د تيلو ارزښت او رول ورځ په ورځ زياتيدو، ځکه چې په دې وختونو کې د تيلو څخه د روښانه کولو او ګرم کولو په موخوکې ګټه اخيستل کيده.

اډوين ډراک (Edwin Drake) په ۱۸۵۹ ميلادي کال کې د لومړي ځل لپاره دامريکې د متحده ايالاتونودپنسلوانيا دتيتوسوايل (Titusville, Pennsylvania) برخې ته څيرمه دتيلو يو څاه برمه کړه.

په ۱۸۶۰لسیزه کې جان ډ. راکفیلر (John D. Rockefeller) د تیلو په سوداګرۍ کې ځان شامل کړ، جان او د هغې شریکان په دې وپوهیدل چې دغه باارزښته ماده د ټولو تولیداتو د کنترول کولو توان لري، په همدې خاطر جان او هغه ملګرو دستندرد آیل کمپنۍ ( Standard Oil Company) په نامه د تیلو یوه کمپنۍ جوړه کړه.



وروسته له هغې څخه دتیلوستندرد کمپنۍ ټول کارونه دبرمه کارۍ دتولیداتو نه نیولې بیا تر استخراج، تصفیې او آن تر انتقال او خرڅ لاو پورې په خپله سرته رسول مګر وروسته نوموړې کمپنۍ خپل پرمختګ ته دلاچټکتیا ورکولو په خاطر د نورو رقابت کوونکو کمپنیو تر سختو ګوت نیونو(انتقادونو) لاندې راغله چې بالاخره په ۱۹۱۱ میلادي کال کې د متحده ایالاتونو ستري محکمي د ستندرد کمپنۍ د تیلو د مارکیټ څخه په غلطه استفاده، یوه ماده تنظیم کړه، چې په نتیجه کې یې د تیلوستندرد کمپنۍ په څلور دیرشو نور آزادو کمپنیو وویشل شوه.

نن ورځ، ایکسون موبایل (ExxonMobil)، کانوکوفیلیپس (ConocoPhillips) او چیورون (Chevron) د تیلو مهمې کمپنۍ دي چې ریښه یې دتیلو په ستندرکمپنۍ پورې تړلې ده او د نړۍ د لویوتجارتي کمپنیو په قطار کې راځي.

# په هېوادکې دزعفرانو دود

زعفران په ټوله نړۍ کې بازار لري، او په افغانستان کې ځکه ډېر مهم بلل کيږي چې د ډېرو چاروکو او کارپوهانو په وينا کولای شي د ترياکو پر ځای د بديل کښت په توګه پراختيا ومومي. زعفران د دارو ،درملو، خوراکي توکو او په ځانګړې توګه د رنګ د جوړولو لپاره کارول کيږي. که څه هم هر کال په لسګونو کيلوګرامه خالص زعفران له هېواده بهر ته صادريږي، خو لا تراوسه يې په زياته کچه د صادرولو امکان ځکه نه شته چې د چارواکو په وينا په معياري ډول د زعفرانو د توليد او پروسس امکانات په افغانستان کې نشته.

په افغانستان کې هرات  د زعفرانو د توليد لومړنی مرکز بلل کيږي، خو په دې ورستيو څو کلونو کې هڅه شوې چې کښت يې د افغانستان په نورو ولايتونو کې هم دود شي همداسې وشول ډېرو وګړو ددې بوټي دکښت سره مينه پيداکړه چې داوخت دهېواد په ډېرۍ ولايتونو کې کښت کيږي ، دغه ارزښتناک بوټي داوخت دپکتيا په ځينو سيمو کې هم کرل کيږي ،بزګران وايي چې ښه نتيجه يې ورکړې ،دوی وايي چې که دکرهڼې مسولين ورته پاملرنه وکړي نو هم به يې حاصلات لوړشي اوله بله پلوه به يې  دکښت دود زيات شوی وي ،














دپکتيا مرکز ګرديز يوتن بزګرمحمدحسن چې ددې بوټي کښت يې کړی دی خوښ دی چې پدې کړنه يې لاس پورې کړی دی ، دوی داهم وايي چې ددې بوټي په کښت سره يې اقتصاد هم پياوړی شوی ، دګرديز يوتن اوسيدونکی سلطان محمد وايي چې که ده پخوا مالومات لرلي چې دغه بوټي دومره ارزښتناک دی نوده به پخوا ددغه بوټي کښت ته مخه کړې وه . ده داهم وويل چې دنورو کلونو پرتله سږکال دزعفرانو بيه کې يو څه کمښت راغلی دی ،خودوی داپېره پر دولتي چارواکو وراړوي ،چې ددوی ژوند اوکښت لپاره يې ورته وړبازار ندی پيداکړی ،سلطان محمد له دولته غواړي چې ددې بوټي په پياوړتيا اوسمولارښوونو کې ورسره مرسته وکړي.
دپکتيا دکرهڼې ريس نيازمحمدلعلي ځدران وايي چې سږ کال قيمتونه ځکه دومره راټيټ شوي چې د زعفرانو د توليد کچه د غوښتنې په پرتله زياته ده، دی وايي د هر کال په تيريدو سره د زعفرانو د توليد کچه زياتيږي او په پايله کې قيمتونه هم بدلون مومي، نوموړی زياتو ي چې زغفران ځکه راټيټ شوي چې غوښتنه يې کمه شوې،اوهم په تيرو کلونو کې د زعفرانو د توليد او غوښتنو ترمنځ انډول موجود و، خو سږ کال د توليد کچه د غوښتنې په مقايسه پورته تللې، ځکه نو د زعفرانو بيه هم راټيټه شوې ده، دکرنې ريس ځدران داهم وويل چې دوی به دزغفرانو دلا کښت لپاره لازمې هڅې اودبزګرانو سره به هم مرستې وکړي ،دی وايي  چې دغه بوټي ډيرارزښتناک دي درواجولولپاره به يې دپکتيا په ټولو ولسواليو کې دعامه پوهونې په برخه کې دبزګرانو لپاره ورکشاپونه هم په لاره واچوي.ديادولو ده چې په تيرو دوو کلونو کې يو کيلو خالص زعفران په هېواد کې له ۳۰۰۰ نه تر ۴۵۰۰ ډالروپورې  پلورل کېدل، خو سږ کال يې د يوې کيلو بيه له ۱۵۰۰ ډالرو نه ده پورته شوې.

## چگونگی ایجاد ریاست امور حقوقی وزارت تجارت و صنایع و اجرآت آن در قسمت طرح اسناد تقنینی

## ( ازتأسیس الی اکنون )

**گزارش: میاء ( احمدی میاخیل)** امر مشوره های حقوقی و تجارتی ریاست امور حقوقی وزارت تجارت و صنایع

ریاست امور حقوقی درسال 1385 در تشکیل وزارت تجارت و صنایع منظورو مبنی برنیاز مبرمی که به موجودیت قوانین تجارتی در کشور احساس میشد ودرکنفرانس های بین المللی بن و لندن نیز به آن اشاره گردیده تا یکتعداد از قوانین طرح و تدوین یابد ، به همین منظور ریاست امور حقوقی در تشکیل وزارت تجارت وصنایع طبق فرمان ریاست جمهوری ایجاد و مطابق به روال کاری در قسمت طرح و ترتیب قوانین ذیل کار نموده است :

- قانون شرکت های سهامی و محدود المسؤلیت( **Corporation and Limited Companies Law** ) .
- قانون شرکت های تضامنی ( Partnership Law ) .
- قانون میانجیگری ( Mediation Law ) .
- قانون حکمیت ( Arbitration Law ) .

چهار عنوان قانون فوق در زمانیکه پارلمان رخصت بود به اساس فرا مین تقنینی شماره ( 95-98-99 و100) مورخ 1385/10/27 ریاست جمهوری نافذ گردیده است که پس از تنفیذ، نظر اهل خبره و صاحب نظر از طریق روزنامه های ملی انیس و اصلاح و ادارات ذیربط مطالبه شده و قوانین متذکره همراه با تعدیلات پیشنهاد شده به پارلمان کشور غرض تصویب ارجاع گردیده است .

**قوانینی که پس از طرح وطی مراحل به تصویب پارلمان رسیده و از جانب مقام محترم ریاست جمهوری توشیح گردیده است :**




- قانون اتاق تجارت افغانستان Afghanistan Chamber of (Commerce Law).
- قانون حمل و نقل اموال (Transportation Law).
- قانون حمایت رقابت (Competition Supporting Law).
- قانون حمایت از حقوق مخترع و مکتشف (Patent Law ).
- قانون ثبت علایم تجارتی (Trade marks Law).

**قوانینی که در آنها یک سلسله تعدیلات از جانب این اداره پیشنهاد گردیده است :**

- قانون حمایت از حقوق مخترع و مکتشف (Patent Law ).
- قانون ثبت علایم تجارتی (Trade marks Law).
- قانون حمایت از رقابت (Competition Supporting Law).
- قانون حمایت از مستهلکین **(Consumer Protection Law).**
- قانون شرکت ها ( Companies Law )
- قانون ایجنسی ( نماینده گی) تجارتی Commercial Agency Law **( ).**
- قانون قرار دادها ( Commercial Contracts Law).

**قانونی که در حال حاضرتحت غور پارلمان قرار دارد :**

- قانون منع احتکار Anti-Hoarding Law ().

**قوانین و مقرره هایی که تحت تدقیق وزارت عدلیه قرار دارد :**

**1.** طرح تعدیل و ایزاد درقانون سرمایه گذاری خصوصی(Private Investment Law).
- **فعلاَ تحت غور کمیسیون عالی سرمایه گذاری قراردارد.**

**2 - طرح قانون حمایت ازمستهلکین** (Consumer Protection Law)
- **فعلاَ تحت بازنگری تیم ASI قراردارد.**

**3 - طرح قانون کنترول اموال تجارت وخدمات استراتیژیک**

**4- طرح مقرره پارک های صنعتی(Industrial Parks Regulation).**

**5- طرح مقرره شرکت های بارچالانی(Freight Forwarding Regulation).**

**6- طرح مقرره تنظیم امور زون های فرصت بازسازی(ROZ).**

**7 - طرح مقرره تنظیم اجراآت وفعالیت های وزارت تجارت وصنایع.**

**8- طرح مقرره میانجیگری تجارتی .(commercial Mediation regulation)**

**9- طرح مقرره ادارهٔ نمایشگاه پیشرفتهای اقتصادی واجتماعی(Exhibition Center AEC)**

**طرح قوانین و مقرره هایـــــــی که شامل پلان تقنینـــــی مابوده و در داخل وزارت تجارت و صنایع تحت کار است :**

**1 - طرح اساسنامه شرکت تجارتی ملی نفت و گاز افغانستان**

(Article of Association of Afghan National Petroleum Corporation) «ANPC»).

- **طرح تکمیل وبه وزارت مالیه ارسال شده تا مطابق حکم ماده (66)قانون تصدیها آنرا طی مراحل نماید.**

**2- طرح مقرره اداره ثبت مرکزی. (Central Business Registry Regulation)**

**3- طرح مقرره شرکت های سهامی ومحدوالمسؤلیت.**

**(Corporation and limited liability companies' regulation)**

**4- طرح مقرره شرکت های تضامنی (partnership regulation)**

**5-طرح مقرره حکمیت تجارتی .(Commercial Arbitration regulation)**

**6– طرح قانون افلاس (ورشکستگی ). ( Bankruptcy law)**

**IV. <u>طرح قوانین ستندرد(Standard Law ) وحق طبع ونشر( Copy Right):</u>**

طرح قوانین ستندرد و حق طبع و نشر درجمله قوانین ده گانه ای است که به اساس موافقتنامه لندن طی مراحل آن از مکلفیت های وزارت تجارت و صنایع بوده که مطابق به آن طرح قوانین متذکره ازجانب این وزارت تکمیل و به وزارت عدلیه غرض طی مراحل گسیل گردید. ولی حین طی مراحل بعدی، قوانین متذکره نسبت ارتباط کاری آن و نظر به فیصله کمیته قوانیـــن شورای وزیران به وزارت اطلاعات و فرهنگ و اداره مســتقل ســتندرد ملی افغانستان(ANSA) تعلق گرفته است.

# متوازن انکشاف

لیکوال :څیروندوی حبیب الله " رفیع"

متوازن انکشاف یوملي پروګرام دی چې له مخې یې د یو هېواد ټولې سیمې د مساوي او سره برابر پرمختګ پړاوونه وهي او په نتیجه کې یې یو ملت په عادلانه ډول د تمدن او



پرمختیا په لور ګامونه اخلي. په متوازن انکشاف کې د یوه هېواد د بیلابیلو سیمو نفوس او محیطي غوښتنې په نظر کې نیول کیږی.نفوس د هر کار او هر اقدام د کولو معیار وي د متوازن انکشاف په پروګرام کې ټاکل کیږي چې په یوه سیمه کې به ولسوالي مثلا د شلو تر پنځه ویشت زرو نفوسو په شته والي جوړیږي، د یوې سیمې له پاره لومړني ښوونځي د اتیا تر سلو کورونو په موجودیت کې جوړیږي لیسه به د دووسوو تر دوونیمو سوو کورونو په شته والي کې منځ ته راځي، کلنیک به د اویا تر سلو کورونو له پاره وي او روغتون به د څلورو سوو تر پنځه سوو کورونو په موجودیت کې جوړیږي په همدې ترتیب نور پرمختیایي کارونه دروا‌خله.

همدا راز د سیمې د ځانګړتیاوو په موجودیت کې به مسلکي لیسې جوړیږي، چیرته چې ځنګلونه وي هلته به د لرګینو صنایعو د زده کړې لیسه جوړیږي، چیرته چې میوې ښې کیږي هلته به د میوې فارمونه جوړیږي.مطلب دا چې د متوازن انکشاف پروګرام به په داسې کرښه روانیږي چې د یو هیواد ټول اوسیدونکي به له ژبني، سمتي، ګونډي، قومي، او مذهبي توپیر پرته په سیمه ایزو غوښتنو او د نفوسو د تناسب له مخې د دې پروګرام له انکشافي ښیګنو څخه برخمن کیږي او هېواد به د متوازن انکشاف غیږې ته لویږي. اوس چې له بده مرغه زموږ ټول هیواد وران شوی اوله نیکه مرغه د بیا ودانولو کار یې پیلیږي د دولت ټولو چاراواکو او مسؤولینو ته لازمه ده چې بیا رغوني پلان د یو پراخ نظر له مخې په عادلانه او علمي ډول جوړ کړي او داسې ترتیب ولري چې بیا رغونه په نوي رغونه او ښه رغونه ولاړه وي د بیا رغوني کار په ټول هیواد کې له سیمه ایزو اړتیاوو سره سم هر څه د عصر او نړۍ له نویو غوښتنو سره سم او د ډیرو نویو او پرمختللو نړیوالو تجربو له مخې پیل کړو او پر زړو بنسټونو نوي دیوالونه ودروو.د ښه وضاحت له پاره د بیارغوني، ښې رغونې په نامه یوه نمونه ورکوو. مثلا موږ به د بریښنا د بیارغوني له پاره څلور ډوله څیړني کوو، لومړی به تر پنځه ویشت کلنو جګړو وړاندې د هیواد د بریښنایيزو تاسیساتو په باب یو بشپړ راپور تهیه کوو او دا راپور به راښیي چې په هیواد کې بریښنایيز تاسیسات څه وخت پیل شول؟ څومره بریښنایي فابریکو نور کوم کوم ظرفیت په کومو ځایونو کې درلود.

دوهم به څیړو چې په تیرو پنځه ویشتو کلونو کې بریښنایيزو تاسیساتو ته څومره زیان اوښتی او څومره خساره وررسیدلې ده. دریم به په ټول هېواد کې سروې کوو چې په کومو ځایونو کې د بریښنایيزو تاسیساتو امکانات شته او په کوم ظرفیت او په څه ډول استفاده ترې کولای شو.

په څلورم پړاو کې به د بریښنا د صنعت په برخه کې د نوې نړیوالې تجربې مطالعه کوو او د اوبو او حرارتي بریښنا تر څنګ به له باد او لمر نه د ترلاسه کیدونکې بریښنا په برخه کې اقدام کوو او په نتیجه کې به په نړۍ کې د بریښنا تر لاسه کولو وروستنۍ تجربې په هیواد کې پلي کوو.

همدا راز د کرنې او عصري کرنې، صنایعو، فابریکو، کانونو او نورو په برخه کې د نوې رغونې او ښې رغونې پر بنسټ بیا رغونه پیلیږي او د متوازن انکشاف له مخې به د بیارغونې کارونه د هیواد ګوټ ګوټ ته رسیږي او هیواد به د پرمختللي پرمختیا په لاره او لوري ګامونه ږدي. که خدای کول!

# صفحه مخصوص عکس های از صنایع دستی افغانستان

زموږ لاسي صنايع د نړيوالو لاسي صنعتونو سيالي کوي










زموږ لاسي صنايع زموږ ملي کلتور نړۍ ته ورپيژني

# زموږ لاسي صنايع زموږ ملی کلتور نړی ته ورپېژنی











# د بازار د اقتصادي نظام غوره بڼې

د بازار اقتصاد یو لرغونی تاریخي اقتصادي نظام دی چې د بشري ټولنې د تاریخي تکامل سره سم یې وده موندلې او د ملي ټولنو له اړتیاوو اود نړیوالو شرایطو له غوښتنو سره سم یې بدلون موندلی دی. د تاریخ په اوږدو او په تیره بیا د شلمې پیړۍ په بهیر کې د بازار د اقتصادي نظام نوي ډولونه رامنځته شوي، چې ځینې غوره بیلګې یې د آزاد بازار (لبرال مارکيټ)، ټولنیزبازار (سوسیال مارکیټ)، د چاپیریال ساتنې ټولنیزبازار (سوسیال ایکالوژیک مارکیټ) یادولای شو.

**ازاد بازار:**

د بازار اقتصادبیلابیلې بڼې لري. یو له هغو بڼو څخه د ازاد بازار (لبرال مارکټ) اقتصادي بڼه ده چې په هغو کې تولید او مصرف په ازاده توګه د بازار د لارې اداره کیږي. دولت په مستقیمه توګه په بازار کې مداخله نه کوي او یوازې د غیر مستقیمې لارې د بازار په پروسو کې لاس وهلی شي. د مثال په توګه، دولت کولای شي چې ځینې دولتي محصولات بازار ته وړاندې کړي، په سیالیو کې برخه واخلي او یانوي قوانین جوړ او عملي کړي. په ازاد بازار کې اساساً هر څوک خپلې شخصي ګټې لټوي او د هغو د ترلاسه کولو له پاره تولید کوي، خدمتونه وړاندې کوي، په اقتصادي معاملو کې برخه اخلي او له دې لارې په اګاهانه او یا نا اګاهانه بڼه د غونډې ټولنې د ژوند دسطحې په لوړولو کې رول ادا کوي. داحتمي نه ده چې یو څوک دې ټولنې ته د خدمت په عالي درک او احساس په اقتصادي پروسو کې مسئولانه ونډه واخلي، بلکې یوازې د شخصي ګټو د تر لاسه کولو په هدف اقتصادي کار یې په اخري پایله کې د ټولنې د ژوندانه د ښه والي او وطن او وطندارانو ته د خدمتونو خواته کشوي.



د ازاد بازار په اقتصادي سیستم کې د قراردادونو ازادي یو له غوره ځانګړنو څخه ده. دولت د کار او د نورو اقتصادي معاملو په ترونونو کې لاس وهنه نه کوي. هر څوک د شخصي تشبث، د کار او شغل د انتخاب ازادي لري او کولای شي پخپله ازاده اراده د هغو په اړه تصمیم ونیسی او د ازادو قراردادونو له لارې د قانون په چوکاټ کې له نورو سره سیالیو ته داخل شي. د ازاد بازار بله ټاکونکې نښه د مصرف او مصرفوونکو ازادي ده. همدا شان د شغل او مسلک ازادي هم د ازاد بازار له غوره بیلوونکو بیلګو څخه ده. دا ټول بیاد تولید پروسایلو د خصوصي مالکیت پر بنسټ ولاړ دي.

د تولیداتو او خدمتونو قیمتونه د هغو څښتنان پخپله خوښه ازاد ټاکي او دا په بازار کې د عرضې او تقاضا د انډول له لارې پخپله تنظیمیږي. په ازاده توګه ټاکل شوي قیمتونه بیا پخپله د بازار بیلانس ساتي او د ځینو محصولاتو د اړتیا څخه د زیات تولید(اضافه تولید) مخه نیسي.

د ازاد بازار په اقتصادي نظام کې بازارته د هر چا مخه خلاصه ده. هر تولیدوونکی کولای شي خپل مال په ازاده توګه وړاندې کړي او هر مصرفوونکی هم کولای شي په ازاده توګه د خپلې اړتیا وړ شیونه پخپله خوښه انتخاب او مصرف کړي. بازار ته ازاده لاس رسی ددې سبب کیږي چې هر تولیدوونکی هاند وکړي، تر څو د مصرفونکو د مینې او ذوق سره برابر پیداوار وړاندې کړي، نوي نظرونه رامنځته شي، ورځ په ورځ د ټاکلې شي نوي موډلونه او د نویو خدمتونو ډولونه تولیداو رواج شي.

د ازاد بازار په سیستم کې د سیالیو ازادي شته او رقابتونه ازاد دي. دا که له یوه لوري د مالونو او پیداوارو د کیفیت د ښیګڼې او ظرافت سبب کیږي له بلې خوا دمالونو د خرڅلاو د قیمتونو د بیلانس سبب هم کیږي.

د تولید پر وسایلو خصوصي ملکیت، ازادې سیالی او ازاد تجارت چې د اقتصادي لیبرالیزم اساسي ستني دي، د ادم سمیت (Adam Smith ) په نظر د ټولني د ژوند د سطحي د لوړتیا او سوکالی له پاره بنسټیز لومړني شر طونه دي. ټولنیز ژوندانه په عمل کې هم دا وښوده چې اقتصادي لبرالیزم د اقتصاد صنعتي کېدواو د پیداوارو ظرافت او تنوع ته چټکتیا ورکړه چې په پایله کې یې پانګوال نظام زغرده وده وکړه. دا پروسه بیا د ټولنیزو پراخه پرګنو له بیوزلی سره هم ملګرې ده او په پایله کې یې دبډایانو او بیوزلانو ترمنځ واټن ورځ تر بلې زیاتیږي.
سره له دې چې د اقتصادي لبرالیزم طرفداران په اروپا او امریکا کې ټول په بنسټیزه توګه د اقتصاد د ځواک له پاره کارکوي، خو تر منځ یې ټاکلي توپیرونه هم شته. په اوسني وخت کې د لبرالیزم نظریه د سیاست د ډګر په څیر په اقتصادي برخه کې هم له هغه پخوانی جاذبې څخه لویدلي او د پام وړ پلویان نه لري.
په ډیرو بحثونو کې داسې هم اوریدل کیږي چې د ازاد بازار اقتصاد د افغانستان په اساسي قانون کې د افغانستان لپاره د اقتصادي سیستم په حیث منل شوی دی. دا خبره سمه نه ده. د افغانستان په اوسني اساسي قانون کې د ازاد بازار اقتصاد نه، بلکې یوازې د بازار اقتصادي سیستم د هېواد د ملي اقتصاد له پاره منل شوی او د هغو د بنو د انتخاب له پاره لاره ازاده پریښودل شوې ده. په اساسي قانون کې راغلي دي چې:
**«مادهٔ دهم:**

**دولت، سرمایه گذاریها وتشبثات خصوصی را مبتنی بر نظام اقتصاد بازار، مطابق به احکام قانون، تشویق ، حمایت و مصئونیت آنها را تضمین می نماید.»**

او همدا ډول :

**«مادهٔ چهلم:**
**ملکیت ازتعرض مصون است .هیچ شخص از کسب ملکیت و تصرف درآن منع نمی شود، مگر درحدود احکام قانون. ملکیت هیچ شخص، بدون حکم قانون وفیصلهٔ محکمهٔ با صلاحیت مصادره نمی شود.استملاک ملکیت شخص ، تنها به مقصد تأمین منافع عامه، دربدل تعویض قبلی وعادلانه ، به موجب قانون مجاز می باشد.تفتیش و اعلان دارایی شخص، تنها به حکم قانون صورت می گیرد.»**

## سوسیال بازار (ټولنیز مارکټ):

د سوسیال بازار اقتصادي سیستم چې د بازار د اقتصاد ځانګړې بڼه ده، د پانګوالی د رژیم د سیالیو پر بنسټ دولت ته دا واک او دنده ورکوي چې په اقتصادي موضوعګانو کې سیاسي – اجتماعي اصلاحات تر لاس لاندې ونیسي، ټولنیز عدالت او سیاسي ثبات ته لومړیتوب ورکړي او د ټولنیزو مساواتو په لار کې ګام واخلي.
د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د اجتماعي بازار اقتصادي سیاسي سیستم مطرح شو او د هغو د پراختیا او پر مختګ په لارکې ګامونه واخیستل شول. په سرمایداری اقتصادي نظام کې د ټولنیزو مسئلو د ښېګڼي او د بیوزلو او محرومو طبقو او قشرونو په ګټه د دولت لاسوهنې ته ځکه اړتیاده چې د پخپل سر او ازادې پانګوالی لخوا ډیر ځله د هېواد محرومان او ټولنیزې ضروري چارې له پامه غورځول کیږي او پایله یې دټولنیز یووالي او سیاسي ثبات د له منځه تلو سبب کېږي. د سرمایداری اقتصاد همدا خپل سرې ودې د شلمې پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې د لومړۍ او دوهمې نړیوالې جګړې په رامنځته کېدو کې د پام وړ رول ولوباوه.

) له نظره د سوسیال Ludwig Erhard) او لوډویګ ایرهارډ ( Alfred Müller-Armackد الفرید مولر ارمک ( بازار ښیګڼه داده چې د ازاد بازار مثبتې خواوې ساتي، د اقتصادي ځواکمنتیا او د تولیداتو او خدماتو د تنوع له بهیره ننګه کوي، خو په عین وخت کې د هغو د منفي اړخونو او بدو اغیزو مخنیوی کوي، په ټولنیز ژوندانه کې د ګټې د ترلاسه کولو په خاطر د ازاد بازار د رقابتونو د ورانوونکي اغیزې مخه نیسي او د څو محدودو کسانو په لاس کې د اقتصادي ځواک دانحصار او تمرکز د ماتولو له پاره د ټولني په ګټه مناسب او قانوني تدبیرونه نیسي. د ټولنیز بازار د اقتصاد هدف دادې چې د ټولني د وګړو د ژوند د سطحي د لوړولو له پاره له ټولو امکاناتو کار واخیستل شي او په عین حال کې د ملي یووالی، ټولنیز مصئونیت، امنیت، سولي او عدالت د تأمین او تحکیم په لار کې هم پوره اقدامونه تر لاس لاندې ونیول شي.

په ټولنيز بازار کې د دولت ځای او رول د ازاد بازار څخه فرق لري. دلته دولت د ازاد بازار په څير په اقتصادي چارو کې پاسيف رول نلري، بلکې په فعاله توګه په اقتصادي معاملاتو کې برخه اخلي او په هغه ځای کې چې اقتصادي پروسې د ټولنيزو، سياسي چارو دموازنې د له منځه تلو سبب کيږي، فعال دفاعي او اصلاحي تدبيرونه نيسي. په دې حال کې د دولت غوره اجتماعي سياسي هدفونه او تدبيرونه د کار په بازار کې، د شتمنيو د جوړولو په سياست کې، د کورونو د جوړولو او توزيع په سياست کې، د ښوونې او روزنې په چارو کې د عايداتو پورته کيدو او معاشاتو په اندازه او ويش کې مداخله او داسې نور تر لاس لاندې نيول کيدای شي. هدف دادی چې اقتصادي پرمختګ او د مادي نعمتونو پريماني د ملت د عامو وګړو ترمنځ د کشمکش سبب نه شي، بلکې د ازادې سيالی په پايله کې د رامنځته شوی پرمختللې اقتصادي ځواک په واسطه ټولنيز عدالت، پيوستون او پرمختګ تضمين کړي. د سوسيال اقتصادي مارکټ نظام داسې شرايط رامنځته کولای شي چې د ملي اقتصاد پرمختګ د ټولنيز عدالت، پيوستون او تره قی سره تينګ تړاو ولري، نه داسې چې د بی امنی،اجتماعي انشقاق او سياسي بی ثباتی سبب وګرزي. د سوسيال بازار مارکټ کله کله د سوسياليزم او پانګوال نظامونو تر منځ دريمه اقتصادي لار هم نومول شوې ده، خو ډير



پوهان د داسې اصطلاح استعمال سم نه بولي. په نړۍ کې د سوسيال بازار غوره نمونه د المان اقتصادي نظام دی چې د ملي اقتصاد د پر مختګ سره يوځای د افرادو ټولنيز مصئونيت هم تضمينوي. په سوسيال بازار کې دولت مکلفيت لري چې بيوزلو، زړو، معيوبو، بيکارو او نورو ټولنيزو مرستو ته اړو کسانو او د هغو اولادونو ته د ژوند لومړي ضرورتونه د ټولنې په منځګړي کچه ورسوي. هر څوک حق لري چې مناسب خوراک او څښاک، د سمو جامو د اغوستلو او د معياري کور د اوسيدلو امکانات ولري. په هېواد کې د هر اوسيدونکي روغتيا د دولت لخوا بيمه ده. هر څوک حق لري چې د دولت له بودجې او ټولنيزو فاندونوڅخه ورته د زده کړې او ښوونې او روزنې شرايط برابر شي. د کوچنيانو د زده کړې او تحصيل امکانات د هغوی د ميندو او پلرونود ټولنيز موقف او شتمنی تابع نه وي. دولت مکلف دی چې د قانون له مخې د هر چا استعداد ته د ودې مخه خلاصه او ترې بشپړه ننګه وکړي. په دې توګه د سوسيال مارکټ په نظام کې د کور، کاليو، ډوډۍ، روغتيا او سواد ستونزو ته د حل د لارو موندل د دولت له مکلفيتونو څخه شميرل کيږي او د پرمختللي اقتصادي ځواک په زور ورته په اسانه مناسبې لارې موندل کيږي.

**سوسيال ـ ايکالوژيک مارکټ (دچاپيريال ساتنې ټولنيز بازار):**

د وخت په تيرېدو سره د بشري ټولنې د پايښت له پاره د چاپيريال اهميت زياتيږي او د هغو د سالم ساتلو دنده د انسانانو په وړاندې ورځ په ورځ غوره کيږي. ډير اقتصادي فعاليتونه د انسانانو د ژوند په چاپيريال منفي اغيزه کوي. له همدې کبله د بازار د اقتصادي نظام د سوسيال مارکټ تر څنګ د شلمې پيړی په اخرو کې د ايکالوژيک مارکټ تيوري هم رامنځته شوه او وده يې وکړه. ددې نظريې او عملي اقتصادي نظام هدف دادی چې د اقتصاد (ايکانومي) او د ژوند د چاپيريال (ايکالوژي) تر منځ بيلانس وساتل شي.

د شلمې پيړۍ تر دوهمې نيمايي پورې دا نظريه چلېده چې طبيعي ذخيرې پريمانه او ډيرې دي. د ژوند د چاپيرياِل له طبيعي زيرمو څخه وړيا ګټه اخيستل کېده . د شلمې پيړی په دوهمه نيمايي او په تيره بيا د اومې لسيزې وروسته دې نظريې زور واخيست چې د ژوند چاپيريال پخپله زيات ارزش لري او بايد د توليد له داسې ميتودونو او د اقتصادي فعاليتونو له داسې سيستمونو څخه کار واخيستل شي چې د انسانانو د ژوند پر چاپير يال يې ناوړه اغيزې کمې وي. دلته بايد اقتصادي ګټې اوچاپيريال ته د زيان رسيدو ترمنځ سنجش وشي او خالصه اقتصادي ګټه بايد د ژوند د چاپيرياِل د تاوان له لارې لاسته رانه وړل شي. که په سوسيال بازار کې د اجتماعي او سياسي مصئونيت او ثبات موضوع په نظر کې نيول

کېده، په سوسیال ـ ایکالوژیک مارکټ کې د هغو تر څنګ د ژوند د چاپیریال ساتنه هم په پام کې نیول کیږي. په دې اقتصادي نظام کې د اقتصادي ګټو د ترلاسه کولو له پاره د ژوند د چاپیریال خرابولو ته اجازه نه ورکول کیږي.

د اقتصادي فعالیتونو او له هغې لارې د مادی ګټو د ترلاسه کولو په لار کې د ژوند د چاپیریال د خرابۍ د مخنیوي په خاطر ټاکلي معیارونه او میتودونه کاریږي. د نمونې په توګه ویلای شو چې د تولیدي ـ اقتصادي فعالیت په پایله کې دکاربن ډای اکساید د تولید د اندازې پر معیار د چاپیریال مالیه ټاکل کیږي. هر څوک او هر اقتصادي ، تولیدي کامپلکس چې ډیر کاربن ډای اکساید تولیدوي، د ډیرې مالیې پر ورکولو مکلف وي. یا هر څوک چې ډیره انرژي مصرفوي هم ورباندې د چاپیریال مالیه اېښودل کیږي. دا سې ډیر نور میتودونه هم شته چې په اقتصادي فعالیتونو کې د چاپیر یال د تخریب په مخنیوي او کمښت کې مثبت رول لوبولای شي.

په ایکالوژیک ـ ټولنیز مارکټ کې دولت د چاپیریال د ساتنې له پاره په بازار او اقتصادي معاملو کې فعاله مداخله کوي او هر څوک د ګټې د ترلاسه کولو په خاطر د چاپیریال په تخریب کې ازادې لاسوهنې ته نه پریږدي. دلته دا هم په نظر کې نیول کیږي چې په تولیدي ـ اقتصادي پروسه کې څومره انرژي مصرفیږي او په چاپیریال یې اغیزه څومره ده؟

د چاپیریال د ساتنې د مؤسسو لخوا داسې هڅې رواني دي چې د ژوند د چاپیریال د قیمت د معلومولو او د بازار په معاملو کې داخلولو له پاره د هغو د سنجش په خاطر څرګند کمي مقیاسونه رامنځته کړي، چې تر ټاکلې اندازې ورپکې بریالي هم دي. دا نظریه ورځ تر بلې غښتلې کیږي چې د ژوند او فعالیت چاپیریال باید چاته د وړیا څیزونو په حیث د اقتصادي فعالیتونو له پاره په اختیار کې ورنکړل شي. دا د دولت د عمومي شتمنۍ په حیث وګڼل شي او پر استعمال یې قیود وضعه او قیمت پرې کېښودل شي. د بلې خوا د تولید په پروسه او نورو اقتصادي معاملو کې د انرژۍ مصرف تر کنترول لاندې ونیول شي او د برق، تیلو، ګازو او نوره انرژي باندې مالیه جګه شي. دایکالوژیک ـ ټولنیز بازار په نظام کې هدف دا هم دی چې د راتلونکو نسلونو له پاره د ژوند طبیعي چاپیریال سالم وساتل شي.

# د اسلامي اقتصاداواسلامي جهان بینۍ مفهوم

لیکونکی: حمیدالله عظیمي

اقتصادي فعالیت اسلام کې په بشپړه توګه د هر انسان په جهان بینۍ پورې اړه لري. د یو انسان لید له نړۍ څخه، باور یې، د ټولنې حاکم ارزښتونه، عقیده او هغه مفاهیم چې د یوې ټولنې خلک په هغه باندې باور لري په لوړه کچه په اقتصادي مسایلو او په ځانګړې توګه د بانک داري په سیستیمونو کې په سترګو لیدل کیږي. د هغو خلکو جهان بیني چې اسلامي زده کړې یې کړې وي او یا یې عقیده د اسلامي عقایدو څخه جوړه وي، په طبعي ډول د اقتصادي مسایلو څخه لکه تولید، توزیع د اموالو ګټه او زیان ، مصرف ، د بانکداري سیستم ، د صادراتو ، وارداتو او داسې نور اقتصادي فعالیتونو څخه متفاوت لید لري ،هغه کسان چې په دنیا او اخرت ایمان ولري، هغوی په دې پوهیږي چې ټول اقتصادي مسایل په اسلام سپڅلي دین کښې په بشپړه توګه بیان شوي دي او د قیامت په ورځ د ټولو فعالیتونو او کړنو په اړه باید ځواب ورکړي،هغه فعالیت چې د اسلام په دایره کښې اجازه ورته ورکول شوې ده، خپل فعالیتونه په لاره اچوي زموږ مسلمان افغان سوداګرهم، لومړی له هرڅه نه باید هغو مسایلو ته پام وساتي چې اسلام ورته اجازه ورکوي، او د اسلام په دایره کښې په ازاد ډول خپلو مسلمانو ورونو او خویندو ته خدمت وکړي چې هم خدای "ج" او هم زموږ ستر پیغمبر حضرت محمد مصطفی "ص" ورځني راضي شي. د ازاد بازار معقوله هغه وخت درست مفهوم پیدا کوي چې یو مسلمان سوداګر په خپلو اقتصادي فعالیتونو کښې داسلام سپڅلي دین له هر څه نه لوړ وګڼي.تر هغه وخت چې زموږ افغان سوداګر د ازاد بازار پر ځای، اسلامي احکاموته چې د اقتصادي فعالیتونو تنظیم کونکي دي ارزش ورنکړي ازاد بازار د افغانستان د خلکو ستونزه حل کولای نشي.د هر انسان جهان بیني د دې لامل کیږي چې انسان ځینې شیان ومني او هغه ځان ته باوري وګرځوي او ځینې شیانوڅخه باید د تل لپاره لرې ووسي.



په یو خدای ج ایمان درلودل او په توحیدي عقایدو باور لرل دا هغه څه دي چې د هغه په رڼا کښې نه یوازې اقتصادي فعالیتونه په سمه توګه په لاره اچول کیږي بلکه ټولنیز فعالیتونه او هم سیاسي فعالیتونه تنظیمولی شي، همدغه باور د انسانانو اقتصادي ژوند او اسلامي ټولنې ټول فعالیتونه د تاثیر لاندې راوړي.بل دا چې هغه اسلامي جهان بیني چې په اخرت او ورسته له مرګ څخه په ژوند ایمان لرل دي ددې اصل پلې کول د اقتصادي فعالیتونو په سمه توګه پر مخ بولو کې ډیر مهم عنصر شمیرل کیږي.

په اخرت ایمان لرل ډیری هغه ټولنیزې ستونزې او نور مسایل په ټولنه کې تنظیموي لکه د بانکداری فعالیتونوتنظیمولوکښې ډیره اساسي ونده لري. کله چې انسان پدې ایمان ولري چې ورسته له مرګه داسې نړۍ موجوده ده چې هلته زموږ څخه د اعمالو پوښتنه کیږي نو نوموړی انسان له ګټې، زیان، د سوداګرۍ او د ژوند موخوڅخه بیل ډول اعتقاد لري.هغه له دنیا او د دنیوي ګټې څخه بیل تعریف لري هڅکله د خپل باورو پر ضد نشي کولای ودریږي او د عامو خلکو ګټې له خپلو ګټو څخه لوړې وګڼي. او هغه وخت د ازاد بازار مفهوم په درست شکل معنا پیدا کوي چې افغان سوداګر په خپلو فعالیتونو کې اسلام د خپلو فعالیتونو لارښود وګرځوي.

کله چې انسان اسلامي نړۍ لید ولري د مال او ثروت څخه بیل لید لري. د اسلام دین د دې نړۍ مال او ثروت خدای "ج" ته اړ بولي او دا اصل د مسلمانانو په زړونو کې منل شوي دي. مسلمانان په دې باور دي چې د دنیا مال د دوی مال ندی بلکه هغه د خدای "ج" مال دی چې د انسان لپاره په دې دنیا کې امانت په ډول اېښودل شوی دی. ترڅو د خپل ځان او نورو خلکو د ښېګڼو لپاره وکاروي. لکه چې زموږ پلارونو ویلي دي: (کله چې یو انسان یوه ټوټه ځمکه واخلي نو وایي دا ځمکه زما شوه خو ځمکه شنه په ورته خندا شي او ورته وایي زه د ستا نه یم بلکه دا ته یې چې زما یې او ما ته راستنیدونکې یې). نو په کاره ده چې افغان سوداګر د اسلام د اساسات پر بنسټ خپل سوداګریز فعالیتونه پرمخ یوسي. ترڅو دنیا او اخرت یې له خوښیو څخه ډک وي.

# آداب معاملات تجاری از نگاه اسلام

نویسنده: ليلانعمتي

تجارت و دادوستد در جامعه اسلامي آداب و اصول خاصي دارد كه به آداب قبل از تجارت، هنگام تجارت و بعد از انجام آن تقسيم مي شود. قوانين تجارت و دادوستد در جامعه اسلامي در واقع براي بهبود انجام معاملات و در نظرگيري منافع عموم مردم، جلوگيري از وابستگي كشور به جوامع ديگر و حفظ استقلال اقتصادي و اجتماعي مسلمانان تدوين شده است. بر مسلمانان واجب است كه در زمان انجام تجارت اين اصول را در نظر داشته باشند. مراد از آداب پيش از تجارت آن دسته آدابي است كه پيش از داد و ستد با فاصله كوتاه يا بلند بايد مورد توجه قرار گيرد كه به شرح زير آورده مي شود:

**انگيزه سالم:** انسان هر عملي را كه انجام مي دهد اعم از عبادات و اعمال صالح يا فعاليت هاي اجتماعي بايد نيت و انگيزه سالم و شرعي داشته باشد. در ارزش گذاري رفتارهاي آدمي از ديدگاه اسلام، افزون بر حسن عمل سنجش ها و معيارهايي همچو نيت نقش دارند،از سوي ديگر پسنديدگي حسن نيت، همه رفتارها و كردارهاي آدمي را در بر مي گيرد و به وظايف عبادي ويژه اي منحصر نمي شود؛ رسول گرامي(ص) فرمودند: بر تو باد كه در همه چيز، حتي در خوابيدن و خوردن، نيتي داشته باشي.در رفتارهاي اقتصادي و داد و ستد نيز انگيزه، نقش مهمي دارد. چرا كه در بحث هایی اقتصادي ديني ، با اينكه ساختن انسان و رشد معنوي او را در جايگاهبالاتري قرار داده اند افزون بر اين، دارا بودن انگيزه سالم و آرمان متعالي نقش موثري در حسن عمل دارد و با جهت بخشي مناسب به رفتارها، عامل بازدارنده از ناشايسته هاي اقتصادي شمرده مي شود. اين همان است يعنی تجارت نوعي عبادت به شمار مي رود، كه ركن عبادت همان انگيزه و نيت درست است.




**دانش و تخصص:** انجام هر عملي كه از سوي فرد صورت مي گيرد نيازمند دانش، مهارت، تجربه و تخصص در آن رشته است. در ديدگاه اسلام تجارت به دو دليل نيازمند آگاهي است: دانش ديني و تخصص در كار. درباره امر نخست فراگيري احكام تجارتی و شناخت حرام و حلال از آدابي است كه در روايات به آن تاكيد شده است. فراگيري آن دسته از احكام واجب و حرام داد و ستد كه در تلاش هاي اقتصادي فرد مسلمان به آن نياز است،وظيفه اي الزامي و فراتر از استجاب است و براي اين مسئله دلايل خاصي وجود دارد؛ تجارت در اسلام پايبندي ها و ممنوعيت هايي دارد كه آگاهي از آنها نيازمند آموزش و فراگيري است. بنابراين حكم به استجاب در فراگيري احكام تجارت و روا دانستن ترك آن در واقع بستر سازي براي گرفتار آمدن به محرمات شرعي است. هرگز ناداني و ناآگاهي را دليلي براي انجام فعاليت هاي اقتصادي حرام و ترك واجبات نمي توان به شمار آورد. يك تاجر مسلمان بايد به تمامي احكام و قوانين ديني مربوط به نحوه و آداب تجارت علم داشته باشد. تجارت موفق تجارت كساني است كه از تخصص و آگاهي هاي لازم برخوردار باشند، قوانين و قراردادهاي تجاري، چون توليدات كشورها و مناطق گوناگون و ويژگي هاي بازارها را بشناسند و اطلاعات لازم را در اين زمينه داشته باشند.اين امر مهم بويژه در عصر كنوني كه با انقلاب در تكنالوژي اطلاعاتی و ارتباطاتی و گذر از تکنالوژی سخت افزاري به نرم افزاري نقطه عطفي در شكل گيري بازارهاي مبتني بر نظام ها و شبكه اطلاعاتي به وجود آمده، بيش از پيش ضرورت مي يابد. چنان كه آنان كه فاقد عقل اقتصادي درست و آگاهي هاي لازم اند، پيوسته خود و جامعه را با خطر عملكرد هاي تجاري نادرست و ويرانگر روبه رو مي سازند. از اين رو قرآن كريم، از قرار گرفتن اموال در دست افراد ناشايسته باز مي دارد: «و لاتوتوا السّفهاء اموالكم الّتي جعل الله لكم قياماً». انسان در سرمايه گذاري و انجام فعاليت هاي تجاري بايد افراد عاقل و دانشمند را در اولويت داشته باشد.

**اولويت تجارت داخلي:** در تجارت و دادوستد تا حد ممكن بايد سعي شود كه نتايج و سود حاصل از آن در معاملات داخلي و حريم كشور انجام شود مگر تجارت هاي خارجي كه به نفع مردم جامعه اسلامي است. بي گمان فعاليت هاي تجاري و دادوستد هاي تجارتی به سود جامعه و در زمينه منافع ملي باشد، باعث رشد و شكوفايي اقتصاد و توانمندي ملي و در نتيجه كاهش از ميزان وابستگي به بيگانگان خواهد شد.اینامرمهم افزون برآنكه گامي درراه استقلال اقتصادي وازاهداف اقتصاد اسلامي به شمارمي رود، اثرات فرخنده اي نيز در زمينه هاي گوناگون سياسي و فرهنگي به جاي خواهد گذاشت.شايسته است كه تاجر مسلمان فعاليت هاي خود را براي خدمت به جامعه و رفاه و آسايش هم ميهنانش انجام دهد و با سود خواهي و منافع سطحي و شخصي، او را به هدر دادن سرمايه هاي ملي نكاشند. رسول گرامي خدا (ص) در سخني برانگيزاننده و رسا مي فرمايند: «..فانّ الجالب الي سوقنا كالمجاهد في السبيل الله..» واژه جالب در مفهومي گسترده انتقال هر گونه سرمايه، تكنالوژی، مديريت و استخدام و اموال مورد نياز را به كشور در بر مي گيرد كه خود، زمينه رونق تجاري و رفاه عمومي را فراهم مي سازد. اكنون دولت ها نه تنها تلاش مي كنند كه از گريز سرمايه هاي گوناگون اعم از انساني و غير انساني جلوگيري كنند، بلكه از فعاليت سرمايه گذاران خارجي نيز استقبال مي كنند. جالب است كه رسول خدا (ص) در آن عصر، براي تحقق اين امر تدابيري انديشيدند، براي واردكنندگان كالاهاي استراتژيك و اساسي از خارج كشور امتيازاتي قرار دادند كه از جمله مي توان به تامين مخارج آنان طي اقامت در شهر و بيمه اموال آنان در برابر خسارات اشاره كرد.

**انتخاب اموال مرغوب:** تجارت يك مسلمان واقعي زماني مورد عنايت و لطف خداوند قرار مي گيرد كه فرد اموال و اجناس مرغوب و شايسته را در اختيار مردم قرار دهد. از وظايف اخلاقي و اجتماعي تاجر مسلمان و متعهد ارائه خدمات مناسب و عرضه اموال مرغوب است؛ گسترش و نهادينه شدن اين شيوه در جامعه دستكم اين اثر اقتصادي مثبت را همراه خواهد داشت كه توليدكنندگان به كيفيت محصولات خود توجه ويژه داشته باشند. هر گاه از اموال نامرغوب در بازار استقبال نگردد، توليدگنندگان ناگزير نيروي فكر و فيزيكي بيشتري در بهبود كيفيت آنها صرف مي كنند، بويژه در اجناسي كه بازار رقابتي شديدتري دارد. طبيعي است كه توليد بيشتر اموال مرغوب در اثر بالارفتن ميزان تقاضا مي تواند به كاهش قيمت ها نيز بينجامد.



**استفاده مطلوب از امكانات:** بيشتر موسسه هاي بزرگ تجارتی و مراكز تجارت جهاني با سرمايه گذاري هاي اندك و امكانات و فعاليت هاي محدود، آغاز به كار كرده اند و از كمترين فرصت ها و زمينه ها به طور شايسته سود جسته اند. با وجود اين ايجاد روحيه در افراد بر تقويت اراده و ايجاد برخی زيرساخت هاي اخلاقي چون شكيبايي، خرسندي و قناعت، اميد و توكل به خدا استوار است.

**اصلاح سرمايه:** از ديدگاه اسلام سرمايه امانتي الهي در دست انسان است كه بايد براي منافع خود و جامعه و اصلاح و رشد به نگهداري آن بپردازد. در روايات با واژه هاي اصلاح، استصلاح، استثمار و حفظ به اين امر تاكيد شده است. براي نمونه رسول خدا (ص) مي فرمايند: «من المروّه استصلاح المال» لازم به ذكر است كه واژه استثمار در زبان عرب، به معناي نفع بردن، سودجويي و سرمايه گذاري آمده است و با مفهوم رايج آن در زبان دری يعني نفع بردن و سوداز هم تفاوت دارد. سرمايه گذاري و به گردش درآوردن سرمايه در فعاليت هاي اقتصادي از برجسته ترين مصاديق اصلاح و استثمار آن به شمار مي رود.

**نفي واسطه گري هاي غير ضروري:** اسلام براي سلامت و حفظ روند طبيعي بازار با وضع قوانين حقوقي و اخلاقي نظارت خود را انجام داده است. يكي از مقررات نهي از واسطه گري هاي كاذب است بر پايه روايات و احاديث نهي واسطه ها دستوري الزامي براي ساماندهي و سالم سازي امور تجاري و فراتر از نهي كراهتي است چرا كه نوعي استثمار، نيرنگ و فريب و ستمگري است. كسي كه با خريد اموال به قيمت پايين تجارت آن را به انحصار خود در مي آورد و سپس با قيمت گزاف آن را به فروش مي رساند، بدون انجام كاري مفيد، سود سرشاري را به دست مي آورد و فشار گراني و بعضی كمبود اموال را بر جامعه تحميل مي كند. پس هر گاه واسطه گري تنها مايه گراني اموال و زيان رساندن به فروشندگان و موجب اختلال و ناهماهنگي در روند طبيعي عرضه و تقاضا شود بشمول نهي و حرمت شرعي مي شود. عمل به موارد و عناوين ياد شده قبل از انجام معاملات، تجارتي اسلامي و اقتصادي سالم را در جامعه ايجاد مي نمايد.

# صفحه مخصوص هنر و ادبیات

## د مینی راز

راشه د میني ولولي ووینه
د رنیو اوښکو سلسلي ووینه

وايي چي زه درنه سوغات غواړمه
د یار د سترګو حوالي ووینه

ما ویل مینه محبت ته وايي
اوس اندیښني شوي کشالي ووینه

رقیب زما په غم ښادي جوړه کړه
زما بي وسه حوصیلي ووینه

وایی سرتور چي اشنا ستا له غمه
زما شعرونه رسالي ووینه

عبدالجلیل سرتور

۱۳۶۱ننګرهار

## آرزو دارم

چرا به من می گویند دوستش نداشته باشم
حالانکه دوست داشتن جرم نیست
من نمی فهمم که چرا دوست داشتنش
مرا به گناه خواهد کشاند من گناه نمیکنم
من گناه را دوست ندارم ولی او را چرا...
من او را فراموش نمی

نمیکنم ولی گناهش را چرا...
من دوستش دارم و او را فراموش نمیکنم
ولی گاهی باید گریز کرد و گاهی نمی شود گریخت
و ان لحظه که نمیتوانی از ان بگریزی همان لحظه ای است
که من از ان می ترسم ولی ان را تجربه
کردم
تجربه ای که خدای متعالم ببخشاید
و عشق واسطه شود تا بخشیده شوم
در اخر همین را برایتان می گویم
سکوت و نگاه را با هم یکی میکنم
فریادی میشود بی صدا
می شنوی؟!

## سخن شیرین

یک شمع میتواند هزاران شمع را روشن کند
بدون آنکه چیزی از دست بدهد.
بمانند شادی که هیچگاه با تقسیم کردن کم نمیشود.

# وطن

زه دې قـــربان سمه له تا افغانستان وطـــنه
ای دمیرویس اوغزنوي اواحمدخان وطـــــنه
ستاپه لمن کې روزل سوی شنه زمریان پراته دي
ستاسردرو باندي ګزمه کړي شاه بازان وطــــنه

ســـــــتاپه سینه کې بې کفنه شهیدان پراته دي
تا زیږولي غیـــرتمنـــه باتوران وطــــــــــنه
دایوب جګه شمله به د انګریز په یاد وي
ای د ملالۍ او اکبر دزانګو ځای وطنه

ایران که هرڅه کوي زموږ ترمنځ حساب باقي
ای د تیمورا و شاه محمود او شازمان وطنه
تاکي خـــــــرقه مطهره دمحــــــمد پرته ده
تاکي مرقد دی دسخي شاه مردان وطــــنه

بت شکــــنان دي یو احمـــد اومحـــمود ندي
ستا تول زامن دي فاتحان اواتلان وطنـــــه
د افغان توره دي پرزړه لکه ســــورلمرځلیږي
ای دطالب اومجاهد او هرافغان وطـــــــــنه

هـــډونه مات دزماني سـول ستاپرســـره لمنه
دشریعت چیغه دي لوړه تراسمان وطـــنه
ته نازنین یې با تمکین یې په ښایست ترهرڅا
ای دلاله او د سنبل ، ریحان اود زعفران وطنه

عارض به څومره ستا صفت کړي دصفت خزانې
ته په خوږمن صورت همت کړې په خنداوطنه

**عبدالباري عارض**

## غزل

خوب مي شه په سترګو کي تعبیر مي شه
راشه چي مرید دې شمه ، پیر مي شه

ځان رابانديې وپېژنه ړوند یمه
ښکلیه اینه مي شه تصویر مي شه

روح مي ګل په غیره کي مچی ، مچی
ګرځه پرې مسکی ، مسکی او میر مي شه

سیند یمه اشنا چنګک راواچوه
کب مي د زړه ونیسه ماهي ګیر مي شه

وله مي د عشق د غره مارغه یمه
ښکار مي کړه ښکاري ، کمان او تیر مي شه

ما بانديې رنګین انقلاب راوله
سترګی یم بدل مي کړه تقدیر مي شه

راوله کاروان د غزل راوله
زه به دې رباب شم بم او زیر مي شه

**پیرمحمد کاروان**

## وطنه

مونږه په سر مونږه په زړه مونږ په لېمو درغلو
مونږ ستا په لوري عبادت کړو په سجدو درغلو

دښار قاضي مونږ ته سزا د تښتېدو راکړله
په زغرده نه شو درکتی لکه د، غلو درغلو

مونږ له اغيارو ځني تاژغورو د سر په بيه
مونږ په درنو درنو پټکو هسکو شملو درغلو

مونږ دې په ښتو، په سيندونو او په غرو مېين يو
چې په لمنه د سپرلي لکه وږمو درغلو

مونږه زخمونو ته پټی او مونږه زړه ته تسل
غواړو چې نن زخمي زخمي په وينو سرو درغلو

***ليکوال صفيه " صديقي***

## غزل

دردانې غواړي چې ستا د غاړې هار شي
ستوري هم تمه لري چې دې مدار شي

دا ته هسې سپين تندی په کانو ولې
دا هنداره ده ، يو وخت به دې پکار شي

ويده لمر به څه درانه خوبونه ويني
چې شبنم د ګل پر پاڼو باندې بار شي

دا ساړه ساړه بادونه څه پيغور کا
ګل به غيرې له راځي ، خو چې بهار شي

په ښکاره له خندا شين ، د ننه سوزم
طبيعت مې د قاضي بابا چنار شي

چې هر ستورى ورته خپله رڼا لاركړي
دا سرى واعظه ځنګه نو په لار شي

## غزل

جانانه هسې درته ښه نه شومه
ګنې نو زه د څه نه څه نه شومه

ته که ويده وې ، ستا ښکلا وينه وه
ځکه خو تولـه شپه ويده نه شومه

اناپرست پښتون دې ځار کړم له ځان
زړه به مې وچوي، که دې زړه نه شومه

روغ حقيقت ورته سراب_ سراب شو
خپلو ملګرو ته اوبه نه شومه

له سرو او شنو نه بره والوتمه
زه په رنګونو کې ويده نه شومه

مصطفئ سالک

له دې ورې خندا دې ځار شم
مين په تاشوم زه دې زړه کې تل ساتمه

# اداري فســــــــاد

**ليکوال: حميدالله عظيمي**

د مکافاتو او مجازاتو اصول په يوه اداره کې له طلايي اصولو څخه ګڼل کيږي هر نظام، که الهي يا بشري وي په خپلو اصولو کې مکافات او مجازات لري د بيلګې په توګه د اسلام په سپيڅلي دين کې د پرهيزګارانو لپاره د ثواب ،هغه کسانو ته چې په غلطه لاره روان دي او د مستقيمي لارې څخه لرې شوي دي د سزا وړاندوينه شوې ده.هره عالي يا عادي اداره په هغه صورت کې سالمه بلل کيداى شي چې د مکافاتو او مجازاتو کلتور پکي پليږي، دا ډول اداري د فساد څخه هم پاکې وي اداري فساد چې نن سبا په ډيرو بېوزلو هېوادونو کې شتون لري او د دغه هېوادونو خلک يې د چارو په پرمختګ کې له جدي ستونزو سره مخامخ کړي چه د مخنيوي لپاره يې جدي مبارزې ته اړتيا ده. که چيرې نوموړي دولتونه يو هغه لوړپوړى مقام چې په فساد کې غرق وي ځارنوالي ته معرفي کړي او په عام مظهر کې يې محکمه کړي، نور به څوک دا توان ونلري چې بډې يا رشوت واخلي يا هم له قانون څخه سرغړونه وکړي نو په کار ده چې ټولې اداري د مکافاتو او مجازاتو کلتور عام کړي . کله چې د اداري فساد څخه بحث کيږي نويو شمير زيات تعريفونه يې په اړه ليدل کيږي چه ځيني مهم يې په لاندې توګه دي .



داداري اوټولني پيژندونکي پوهان د فساد د لوړې کچې له امله چې نن په ادارو، دولتي او اجتماعي سازمانو کې په سترګو کيږي متفاوت نظرونه لري له دې جملې څخه په ويستر فرهنګ کې راغلي: اداري فساد هغه نامشروع امتيازدى کوم چې دولتي کارکونکو ته د دندې څخه د سرغړونې لپاره ورکول کيږي او دا سرغړونه د امتياز ورکونکو په نفع تماميږي.د دولتي کارکونکو له دندې څخه دا سرغړونه چې په پاى کې د شخصي يا نورودګټې سبب کرځي په مقابل کې يې پيسې يا کوم بل شى لاس ته راوړي دا سرغړونې په لاندې ډول ترسره کيږي.

ـ د اداري قوانينو، مقرراتو او قواعدو څخه سرغړونه.

ـ د قوانينو او مقرارتو تعبير او تفسيرپه خپلو شخصي ګټو.

ـ له دندې څخه سرغړونه، په دنده کې سستي ، اود مراجعينو غوښتنو پروړاندې بې تفاوته پاتې کيدل.

ـ په دنده کې تبعيض ښودل، يا هم سمتي قومي او ژبني تعلقاتو ته لمن وهل.

ـ فساد هغه پديده ده چې د دولتونو سره يو ځاى منځته راغلې چه د سازمانو او ادارو د پرمختګ سره سم فساد هم پراخ شوى دى.

فساد په هغو بې ثباتو سياسي دورو کې په لوړه کچه ليدل کيږي چې د يو هېواد نظام د جنګ له لارې بدلون ومومي په دغه وخت کې فساد هم خپل اړخ پراخه کوي او مفسدين له موقع څخه په استفادې سره هر څومره چې کولاى شي په بډې اخستلو اود قانون تر پښو لاندې کولوباندې لاس پورې کوي خپلې شخصي ګټې نسبت د عام خلکو ګټوته لوړې ګڼي.ځني پوهان فساد پر دريو ډولو ويشي مالي يا اقتصادي، سياسي او اداري په افغانستان کې مالي او اداري فساد په لوړه کچه تر سترګوکيږي.

**الف: د مالي او اقتصادي فساد ډولونه**

۱ـ بډې یا رشوت: هغه مالي یا قیمتي توکي دي چې د غیرقانوني غوښتنو لپاره فاسد شخص ته ورکول کیږي نن ورځ د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې دولتي او غیر دولتي کارکونکي رشوت اخستلو باندې ککړ دي.

۲ـ اختلاس: د عامه دارایي څخه شخصي ګټه پورته کول او یا هم د دولتي اجناسو، ځایونو او مالي امانت کښې خیانت کول. چې وروسته له بډې یا رشوت څخه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې عمومیت لري.

۳ـ مالي فساد: دا ډول فساد معمولاً په قراردادي معاملو، امتیازي خرڅلاو او د قراردادونو لپاره خپل او خپلوان معرفي کول او په ځان باندې د خدمتګار مهر وهلو تر عنوانو لاندې تر سره کیږي چې دا ډول فساد په عموم ډول د بهرنیو سازمانو، تمویل کونکیو، داخلي او بهرني انجوګانو چې د ځینو کسانو او موسساتو سره شریک دي چه د امتیاز، او لویو پروژو د ورکولو له لارې اجرا کیږي د مثال په توګه یوه لویه پروژه کله چې لومړي کس ته ورکول کیږي ارزښت یې یو میلیون دالرو ته رسیږي او ورسته له هغې چې لاس په لاس شي وروستي کس ته دا پروژه په دوسوه زره دالره رسیږي چې اته سوه زره ډالر نور حیفو میل کیږي.

یو ډول بل مالي فساد د بودیجې لټول په مستقیم شکل د وزارتونو او دولتي ادارتو له لورې دي چې هغوی ته دا صلاحیت ورکوي چې پرته له کومې ارزیابي او نظارته یې مصرف کړي.

۴ غضب: د فساد یو بل ډول دی دا ډول فساد د زورواکو کسانو له لوري د ځمکو، اموالو، جایدادونو، باغونو دولتي او عامه شتمنیو غضبول دي چې د حکومت پوري دتړلو مستقیم او غیر مستقیم قدرت لرونکیو له لوري غضب کیږي.

**ب ـ سیاسي فساد :**سیاسي فساد د قدرت تقسیمول او د څوکیو ویشل دي د غنیمت په حیث، له تخصص، کاري تجربې، تقوا،هېواد ته د تعهد اوصداقت پرته خپل طرفدار خلک په لوړو څوکیو کې تعینول، په حکومت کې د ګډون تر عنوان لاندې سهمیه ورکول او سهمیه اخستل دا ټول هغه موارد دي چې سیاسي فساد بلل کیږي هغه دولت چې د عام خلکو او مدني ټولنو څخه ځان ساتي او هغوی په پام کښې نه نیسي په دې باید پوه شي چې دا دولت په سیاسي فساد باندې ککړ دي او که مونږ په دقیق ډول د سیاسي فساد په اړه معلومات راغونډ کړو، نو د سیاسي فساد اړخونه غورا پراخ دي.

**ج ـ اداري فساد :**دا ډول فساد په فقیراوبی وزلو هېوادونو کې ډېر زیات لیدل کیږي او بیلابیل ډولونه لري .

ـ د اداري جوړښت فساد، هغه اداري چې جوړښت یا تشکیلاتي ساختار یې د تخصص او ظرفیت لرونکو کسانو څخه جوړ نه وي، لیاقت لرونکي کسان په دندونه وي ګمارل شوي، حمتاً په داسې اداره کښې اداري فساد شتون لري. بل دا چې څو ډول اداري په هېواد کښې فعالیت کوي او د دندو له مخې سره یو شان دي دولتي اداري، د ملل متحد دفترونه، انجوګاني او همداسې نور موسسات چې د بهرنیو هېوادونو له لوري حمایه کیږي فعالیت کوي.دا ټول هغه موارد دي چې په یو ټولنه کښې اداري فساد رامنځته کوي.




ـ په لوړو څوکیو د نا اهل کسانو ګمارل د قومي پژندنې پر اساس کیږي، د لوړو دلوړپوړوچارواکو تبدیلول د یو ارګان څخه بل ارګان ته چې اصلاً د کار له لحاظ ډېر فرق سره لري ، بل هم ملکي دندې سیاسي، قومي، تنظیمي، سمتي او ژبني کول دي چې په لوړه کچه اداري فساد ګڼل کیږي.

د دسپلیني ضوابطو تر پښو لاندې کول، د اداري سلسله مراتبو نه مراعات کول، د مجازاتو او مکافاتونه تطبیق کول، د جرایمو څخه سترګې پټول، سرغړوني، خپل سري، ناوړه ګټه اخستنه، نظارت نکول او خلکو ته د کارونو په اړه ګزارش نه ورکول هغه څه دي چې د اداري فساد ته یې پراختیا ورکړې ده. د دې ټولو مواردو په نظر کې نیولو سره ویلی شو چې

فساد فساد دی او د لمنځه وړلو لپاره يې جدي مبارزې ته اړتيا ليدل کيږي. نوبايد دولت او ولس په ګډه ددې شومې پديدې په مخنيوي کې لاس سره يوکړي اوخپل ګران هېواد دنړۍ دمفسدوهيوادونو دقطار څخه وباسي.

## رقابت و نفع شخصی

**نگارش: مینه**

ریشه پیدایش رقابت نفع شخصی و تضاد آن با منافع دیگران است، در اقتصادتجارت آزاد،فرض بر این است که هرفردی می کوشد تا نفع خود را تأمین کند و هر چه بشتر به منافع خود بیافزاید و یک وضعیت استثنایی برای خود پدید آورد . دیگران نیز در پی حدا کثرکردن منافع خود وایجاد یک وضع استثنایی برای خویش هستند و در نتیجه منافع هر فرد با دیگران و ناچیز شمردن هر کس در پی جلب منافع بیشتر به رقابت با دیگران بر می خیزد.

**جنبه های مثبت و منفی رقابت:**

**الف) جنبه های مثبت**

این جنبه ها عبارتند از:

1. افزایش میزان عر ضه اموال: هر یک از رقبا ، در جهت کسب سود بیشتر ، سعی می کند بیش از دیگران اموال مورد نیاز مردم را عر ضه کند در نتیجه، عرضه کل افزایش می یابد.
2. کاهش سطح عمومی قیمتها:افزایش عرضه،قیمت را پایین می آورد ،علاوه به هر یک از رقیبان برای جلب مشتری بیشترمی کوشد اموال خود را با قیمتی ارزانتر از دیگران عرضه کند.
3. بهترشدن کیفیت اموال یا اجناس : هر تولیدکننده ای در صدد جلب مشتری است و در سعی عرضه اجناس با کیفیت برتر را دارد.
4. پدید آمدن ابتکارهای تازه : هر کمپنی که در صدد عرضه اموال بهتر، جلب مشتری بیشتر و سبقت بردیگر عرضه کنندگان است،بخشی از سود خود را صرف انجام تحقیقات، به منظور بالا بردن کیفیت و کاهش مصرف تولید میکند و در نتجیه، ابتکارات و اختراعات تازه ای نصیب اش می سازد.
5. کاهش ضایعات تولید: برای کاهش مصرف تولید،هر تولیدکننده ، سعی در کاهش ضایعات و انجام صرفه جویی بشتر دارد تا جایی که ضایعات یک کار خانه را نیز تبدیل به اجناس قابل استفاده می کند.

ب)جنبه های منفی

بعضی از آثار منفی و سوء این جنبه ها عبارتند از:

1. از بین رفتن اخلاق: رقابت و همچشمی،موجب می شود که هر فرد یا کمپنی اقتصادی با استفاده از هر وسلیه، در صدد جلب منافع خود باشد و مقید به حدود اخلاقی نخواهد ماند، زیراهدف شکست نخوردن از رقبا به هر وسلیه ای را که تجویز می کند. سعی در مخفی داشتن ابتکارات تازه و کوشش در کارشکنی برای ابتکارهای رقیب،احساس سود خود در زیان دیگران و تصور زیان خود در سود دیگران،همه نشانه ای از بین رفتن اخلاق در جامعه است.
2. تبلیغات غیر واقعی و مخرب: رقابت، موجب می شود که هرکمپنی تولیدی، گاهی بجای بهتر کردن اجناس خود، در صدد جلب مشتری از راه تبلیغات نادرست، به نفع خود یا تبلیغات مخرب و پخش شایعات بر ضد رقیب بر آید. بیشتر مردم، تحت تاثیر اینگونه تبلیغات تصمیمی گیرد و سود بزرگی به تبلیغ کنندگان می رسد.
3. گرایش تولید به طرف نیازهای غیرواقعی: در رقابت، هر کمپنی یا شرکت درصدد جلب تمایلات مشتریان به پول است و آنان غالبا خواهان اجناس تجملی و لوکس هستند، از طرفی هم اینگونه اموال و اجناس را می توان با سود بیشتری فروخت. برخلاف اجناس ضروری که امکان افزایش سود در آنها محدود است. و از طرف دیگر، اینگونه مشتریان به ساده گی حاضر اند پول بیشتری در برابر اموال خریداری شده پردازند، از این رو به تدریج، تولید در خدمت نیازهای غیر واقعی طبقات ثروتمند قرار می گیرد.
4. حذف رقبای کوچک: با توجه به اینکه در رقابت، همه رقیبان همطراز نیستند و از قدرت اقتصادی مشابه بر خوردار نمی باشند و رقابت نیز جز تامین منافع شخصی،هدفی را تعقیب نمی کند،رقبای بزرگ توانایی آن را پیدامی کنند

که رقیبان کوچک وضعیف را به زودی از میدان رقابت بیرون کنند و با هضم آنها در خود،بر قدرت اقتصادی خود بیفزایند و سپس به رقابت با رقبای بزرگتر بر آیند.

5. پیدایش انحصار:رقابت به تدریج رقابت را از بین می برد، زیرا رقابت باعث از بین رفتن کار خانه های کوچکتر شده، زمینه پیدایش شرکتهای بزرگ را فراهم می آورد، شرکتهایی که با عظمت و گستردگی خود بی رقیب می مانند. که امروزشاهد پیدایش انحصارها هستیم. شرکتهای تولیدی و فروشند گان بزرگ، به طور افقی یا عمودی درهم ادغام می شوند و تشکیل «تراست»می دهند، یا باهم به جای رقابت، به رفاقت پرداخته، تشکیل کارتلها بزرگ را داده اند. در چنین حالتی میزان عرضه اموال با استفاده از تولید در مقیاس بزرگ و انجام صرفه جویهای ناشی از اینگونه تولید، افزایش می یابد اما سطح عمومی قیمتها کاهش نمی یابد و سود بیشتری عاید انحصارات می شود، بنابراین، پایان رقابت، انحصاراست.

منبع: مبانی اقتصاد اسلامی

## دمطبوعاتوتاریخ اولومړنۍ ورځپاڼې

تحقیق او لیکنه : محمدظریف عنایت زی

ورځپاڼه چې نن سباهرچیرته اوحتی دنړۍ په لیرې پرتوسمیوکې د اکثروخلکوپه لاسونو کې لیدل کیږي څه دپاسه دوه زره کاله وړاندې د ژولیوس سزار د حکومت په وخت کې دهغه په نوښت په روم ښارکې د اکتادیوما په نامه ورځپاڼه خپریده چې په لومړي سرکې به په هغې کې یوازې د سزار تصمیمونه اووروسته د سنا جرګې او حکومت فعالیتونه هم پکې خپرېدل.

دغه په لاس لیکل شوې ورځپاڼه به د لوستو کسانو د لوستلو لپاره د ښارپه څوعمومي ځایونو کې چې له باد او باران نه په امن کې وي نصبیدله.




په دریمه میلادي پیړۍ کې د اردشیر پالکان په نوښت ورځپاڼه خپریده چې په هغې کې به د دربار او حکومت فعالیتونه بیانیدل اوخاصو کسانو ته به دغه پاڼه لیږل کېده .دې کار د خسرو پرویز د حکومت تر وروستیو پورې دوام وکړ .

په ۷۱۳ میلادي کال کې د چین په پلازمیني پیکینګ کې د زردشتیانو لخوا ورځپاڼه  خپره شوه .په دې ورځپاڼه کې به په حکومتي خبرونو سربیره کله کله د عادي خلکو په باب هم مطالب لیکل کېدل . دغه ورځپاڼه چې لومړی په لاس لیکل کېده وروسته مهر یا ټاپې په چاپ بڼه چاپیدله . چینایانو له هغې وړاندې د کاغذ جوړول زده کړي و.

خوله هغې ډیرکلونه وروسته د ۱۶۰۵ میلادي کال په جون میاشت کې دهغه وخت د جرمني او اوس د فرانسي په ستراسبورګ ښارکې لومړنۍ منظمه ورځپاڼه د یوهان کارلوس لخوا خپره شوه، دغه ورځپاڼه ریلیشن نومیده ،ریلیشن لاتیني کلمه ده چې مانایي ارتباط دی چې د ننیو ورځپاڼو مور بلل کیږي.

ریلیشن یوه ولسي ورځپاڼه وه او د هغې ترتولومهمه ځانګړنه دا وه چې خپریدلویې ډیر کلونه په منظمه توګه دوام وکړ. که څه هم له ریلیشن مخکې هم ځیني نورې ورځپاڼې خپرې شوې وې خو دا لومړۍ منظمه عمومي ورځپاڼه  وه چې د باچا د دربارخبرونه اوځایي مسایل یې خپرول  او اویا کاله خپره شوه.

باید ووایو چې ریلیشن له ډیرو اړخونو له اوسنیو ورځپاڼو سره توپیر درلود،هغه وخت پوسته رسوونکو (ډاګي ) د خبرونو په ټولو کې مهم رول درلود او  هغوی به خبرونه راغونډول اوبیا له دې چې هغه سم کړي په دې پاڼه کې به چاپیدل او د چاپ بڼه به په سربې توریو وه ،دا کار به په هغو ماشینونوکېده چې له لرګیو به جوړشوي وچې له هغې څوکاله وروسته په نورو هېوادونوکې هم رامنځته شول.

له هغې وروسته په ۱۶۲۱ کال کې په لندن ښارکې د کورنټ په نامه اوپه ۱۶۳۱ کال کې په فرانسه کې د ګزټ په نامه ورځپاڼه خپره شوه.

خوپه اوسنۍ بڼه لومړنۍ ورځپاڼه اینکومندزایتونګن einkommende zeitungen نومیده چې په ۱۶۵۰ کال کې د جرمني په لایپزیک کې خپره شوه .دغه ورځپاڼه په اونۍ کې شپږ ورځې خپریده څلورمخه وه اود۳۱ په ۱۷ سانتي متروپه کچه چاپیدله.

**د نړۍ د یو شمیرهېوادونو لومړنۍ ورځپاڼې:**

په افغانستان کې چاپي خپروني ۱۳۵ کاله وړاندې پیل شوې او لومړنۍ ورځپاڼه شمس النهارنومیده چې په ۱۸۷۳ میلادي کال کې د امیرشیرعلي خان د واکمنۍ په وخت کې د لومړي ځل لپاره خپره شوه.

دپاکستان لومړنۍ ورځپاڼې جنګ اونواي وقت نومیږي چې په ۱۹۴۷ میلادي کال کې له هندوستانه د پاکستان په بیلیدو سره یې فعالیت پیل کړ او ترننه د دغه هېواد لوړ تیراژ لرونکې ورځپاڼې دي.

د فرانسي لومړنۍ ورځپاڼه دګزت gazette په نامه په ۱۶۳۱ کال کې خپره شوه.

په برتانیه کې لومړنۍ ورځپاڼه په ۱۶۶۵ کال کې د اکسفورډګزټ په نامه خپره شوه .دغه ورځپاڼه په اکسفورډ سیمه کې چې هغه وخت د برتانیي د باچا دربار و چاپیده .خوکله چې یوکال وروسته پلازمېنې لندن ښارته منتقل شو دغه ورځپاڼه هلته خپریده اونوم یې لندن ګزټ شو.

د سویډن ترټولو پخوانی ورځپاڼه پوست ایچ اینریکزنومیده چې له ۱۶۴۵ کال څخه په دغه هېوادکې خپرېده خود۲۰۰۷ میلادي کال له پیله یې چاپیدل بندشول اوله هغې وروسته یوازې د انټرنیټ په مټ خپرېږي.
دا د نړۍ ترټولو پخوانی ورځپاڼه ده چې تراوسه له کومې وقفې پرته خپرېږي.
تقریبا پنځوس کاله وروسته په امریکا کې هم ورځپاڼه خپره شوه ، لومړنۍ ورځپاڼه د پبلک اکرنسز public occurrencesپه نامه په ۱۶۹۰ کال کې په بوسټن کې خپره شوه . خو دغه ورځپاڼه یوازې یوه ګڼه خپره او بیرته بنده شوه ، له همدې امله په امریکا کې د مدرنو ورځپاڼو د خپریدو تاریخ ۱۷۳۴ کال بلل شوی دی یعنې کله چې د نیویارک اونیزه new york weekly journalخپره شوه.




کاناډاپه ۱۷۵۲ کال کې دهالیفکس ګزټ Halifax gazette په نامه خپله لومړنۍ ورځپاڼه خپره کړه.
په استرالیاکې په ۱۸۰۳ کال کې د سیډني ګزټ sidny gazatt اونیوسوت اډورټایزرedvertiser new sout په نامه لومړنۍ ورځپاڼې خپرې شوې.
بمبیې سماچار bombay samachar دهند لومړنۍ ورځپاڼه وه چې په ۱۸۲۲ کال کې خپره شوه دغه ورځپاڼه په دوو انګریزي او ګجراتي ژبو خپریده.
د جاپان لومړنۍ ورځپاڼه نیچي نیچي nichi nichi نومیده چې په ۱۸۷۲ کال کې خپره شوه.



## مدیریت زمان

**نویسنده: محمد اقبال فیضی نژاد**

- مدیریت زمان عبارت از استفاده موثر زمان برای رسیدن به اهداف میباشد.
- استفاده از ابزار یا تخنیک هایی که به منظور برنامه ریزی وتقسیم بندی زمان صورت میگیرد.

**- <u>اهمیت</u>:**




1- وقت چیست؟

2- آیا وقت را کنترل کرده میتوانیم؟

3- آیا زمان در دست ماست؟

" در پاسخ به این سوا لات باید بگوییم؛ **نه!** "

**چرا؟...**

" چون که عقربه ساعت همواره به پیش در حرکت است وهیچ وقت اوقات از دست رفته ما به عقب بازنمیگردد."

**بنابراین...**

" مسأله اداره وقت نیست، بلکه ایجاد تقسیم اوقات های مفید و موثر برای پیشبرد اهداف تعیین شده ادارات وسازمان ها میباشد."

**زیرا...**

" تنها راه برای دستیابی به یک افغانستان مترقی وپیشرفته در زودترین وقت همانا استفاده درست از اوقات با ارزش مان میباشد."

**- <u>دلایل استفاده نکردن از مدیریت زمان</u>:**

- مردم نمیدانند، مدیریت زمان چیست.

- سستی و تنبلی است؛ بعضی از مردم فاقد هدف و انگیزش لازم برای برنامه ریزی موثرهستند.
- کسانی هستند که دوست دارند تحت فشار و تنگی زمان و در شرایط بحرانی کار کنند.

**(( پس باید متوجه اوقات وزمان خود باشیم تا بیهوده هدر نرود!!))**



**- اولویت بندی فعالیت ها :**

اولویت بندی فعالیت ها عبارت از تصمیم گیری در خصوص فعالیت هایی که باید انجام دهید، فعالیت هایی را تعیین کنید که انجام آنها برای تان اهمیت بیشتری دارد. بیشتر روز شما باید صرف کارهایی شود که انجام آنها برای تان اهمیت دارد.

در تعیین اینکه چه کارهایی را انجام دهید وچه کارهایی را نه، شناخت نقطه قوت و ضعف شما حیاتی است.

**- مزایای اولویت بندی:**

با اولویت بندی کارهایتان بر اساس اهمیت، اطمینان می یابید که:

- ابتدا روی کارهای مهم کار می کنید.
- در صورت لزوم، بر اساس ضروریت و فوریت روی وظایف کار می کنید.
- در یک زمان دقیقاً بر روی یک وظیفه تمرکز می کنید.
- در برنامه ریزی زمان، با کارها به صورت موثرتری برخورد می کنید.

**- راه های ایجاد وقت:**

- زنده کردن وقت مرده ( مثل زمان هایی که در انتظار هستیم، زمانی که در موتر می گذرد.)
- انجام کارها به طور همزمان.
- تنظیم کردن وقت کار.
- نه گفتن به کارهای غیر مهم.

- عقب انداختن کارهای غیر مهم.

**- <u>برنامه ریزی زمان:</u>**

برنامه ریزی عبارت از پروسه زمان بندی شده که با استفاده ازآن میتوانیم از وقت و زمان خود برای پیشبرد اهداف خود حداکثر استفاده را ببریم.




**- <u>مزایای برنامه ریزی:</u>**

- اهداف بزرگ را به مراحل قابل دستیابی تقسیم می کند.
- انگیزه لازم را برای دستیابی به اهداف به وجود می آورد.
- عملی کردن برنامه های ما را آسان می سازد.
- نگرش و دید گاه کلی و مفیدی به ما می دهد.
- ما را قادر می سازد تا به جای کارهای غیر فوری، به کارهای مهم تمرکز نماییم.
- ما را یاری می کند تا مشکلات را پیش بینی کنیم.

# Commerce

Economical, Cultural, and Social Monthly Magazine
Of the Ministry of Commerce & Industries

First year, First period: 2012 August







Monthly publication of the Ministry of Commerce & Industries